# حــــــمــــد

په نامه دهغه خدای مي دا بيان د ی
چي يونوم يې په نومونو کې سبحان د ی
هم پاد شاه دی د جمله ؤ پا د شاها نو
هم دهريوه سلطان په سر سلطان د ی
چي په ده شي هغه کار په هيچا نه شي
هرتوانا دده تر توان پورې ناتوان د ی
په سجده يې مځکې سردی لګولی
هم يې ځوړند په رکوع سره آسمان د ی
هره و نه په قــيـــام ورته ولاړه
هر ګياه يې په تسبيح سره زبان دی
همه واړه په تسبيح دده مشغول دي
که ملک دی که پيری دی که انسان دی
هر ماهی يې په درياب کي حمد وائي
هر مرغه يې په چمن کې ثنا خوان دی
حق نا حق يې ثنا هيچا کړې نه ده
نه له هيچاواقع سوی دابيان د ی
مخلوقاتو هسې نه دی پيژندلی
لکه ده سره چي قد ر وخپل ځان دی
حد پايان يې هيڅ سړي موندلی نه دي
معرفت يې هسي بحر بې پايان دی

---

تمرين :
۱ ـ ښونکی صاحب دي دنومړي حمد په باب زده کونکوته معلومات ورکي .
۲ ـ لاندي لغاتونه دي په معنا اوپه جملوکي ځنې وپوښتي.
حـــمـــد ـ سبحا ن ـ سلطان ـ قيام ـ تسبېح ـ ثناخوان ـ حد ـ مخلوقات
۳ ـ ګرانوزده کونکو ! درحمان بابا نظم په نثر واړوی .

## نعت

اول نورکه درسول نه واى پيدا
روښنائي به پيدا نه وه په دنيا
تل صلوات پرمحمد په اخلاص وايه
آئينه کړه دخاطرپرې مصفا
په ظآهر محمد ختم النبين دى
په معنى کې مقدم دى تر هرچا
اميدواريې له دربارناامید نه ځي
محمد کا ن د ى د جود اود سخا
که مطلب دچاصراط المستقيم وي
محمد رسول د ليل د ى رهنما
چي په زړه يې محبت درسول نه وي
هغه کله محبت لــــــري د خد ا ى
کوم عاصي به ناامید دمغفرت وي
چي شفيع لري هم ده غوندې پيشوا
محمد د ى شهريارد د واړوکــونو
بې له خدايه محتاج نه دى دهيچا
هغه شپه چي محمد رسول پيداشو
توره شپه شوه لکه لمر هسي رڼا
دکسرامانۍ لاړې تارپه تارشوې
کا فـــران شوه په ژړا په واويلا
که هرڅوپه عصيا ن ډوب زه پيرمحمد يم
لـــــه نبي د شفاعـــت کـــــــړم تمنا

((شعرپيرمحمد کا کړ))

................................................................................................

تمرين : لاندي لغاتونه معنا کړى .
نعت ـ صلوات ـ ائينه ـ مصفا ـ شهريار ـ ددواړوکونو ـ کسرا مانۍ ـ عصيان ـ تمنا .
۲ ـ پورته لغاتونه په جملوکې استعمال کړى .

# ((داحمد شاه بابا دعلمي اوادبي ټولني ترانه))

اهل دمعارف يو موږ
بچي دتأ لف يو موږ
وجهل ته سپاهي يو موږ
دجهل دوره تيره سوه درڼا څراغ به خپور غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو

ټولو افغانانوته
دعلم پتنګانوته
دهيواد خواروبچيانوته
لښکرموروان کړی هد ف مند يو چي خپل کور غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو

موږ د معارف بچيان
سرموتروطن قربان
راغلی دعمل ميدان
دانـــګـــو ښونځی ته د علمي مفکورې ښور غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو

د تعلـــيـم اوتربيې ميدان
هيوادموسوپه دې ويران
چي نه لرواوس موږ عـرفان
قران مولوی قانون دی ،هم به داقانون سمسور غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو
افغان معارف جوړ غواړو

داد هـر افـغـان بيا ن
راغلی پر وطن طوفان
نه غواړودجنګ ميدان
سوله خوښووکې په جنګ وي کې په زور غـواړو
افغان معارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو

د اد سبــــا ون پيـغــــام
لــوړبه کړودعــــلم بــام
ډک به کړود پوهي جام
لښکرد معارف يو فقط يوعهد اوپيمان نورغواړو
افغان معارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو

ټول د يـــــوبل په څنګ کې يو
پوهــې په غــورځنګ کې يو
خيرد ی که اوس جنګ کې يو
دعلم په رڼا کې به داخپل هيواد سمسورغواړو
افغان مارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو
افغان معارف جوړغواړو

ننګيالي ـ بخرکي نيټه :١٩٩٥م کال

........................................................................

تمرين : لاندي لغاتونه معنا کی .
اهل ـ معارف ـ تألیف ـ جهل ـ دانګو ـ ويران ـ عرفان سمسور ـ فرهنګ ـ عهد ـ پيمان ـ ګړنګ .
٢ ـ پورته لغاتونه په جملو کي استعمال کی .
٣ ـ نوموړې ترانه دي دزده کونکو څخه پياد وپوښتي اوپسله ياده څخه دي ښونکی محترم نوی درس پيل کړي .

# متلونه

١ ـ خپل عمل دلارې مل دی
٢ ـ دتورې ټپ جوړیږي ، خود ژبې ټپ نه جوړیږي
٣ ـ خـــپـلـه لا ســـه ، ګله لا ســـه.
٤ ـ چې تیرشول هغه هیر شول .
٥ ـ لمر په د ووګوتو نه پټیږي .
٦ ـ دغنموله کبله زوز هم اوبه کیږي
٧ ـ دګل له برکته زوز هم اوبه کیږي
٨ ـ مـــیـړونه مـــري ، خونومونه یې پاتیږي
٩ ـ کارګه دزرکې تګ کاوه ، خوهغه خپل یې هیرسو
١٠ ـ چې څـــــه کرې هغه به ریبې
١١ ـ چـــې چیرته اوسې په خوی به دهغو سې .
١٢ ـ د چا عیب مه وایه ، چې ستا عیب ونه ویل سي
١٣ ـ دیوه لرګی اودډ یري غـــوزی
١٤ ـ پوره ورک دي کړه دوه کوره
١٥ ـ ښه وکه په دریاب کې وا چوه ، چې ددریاب ماهیان یې وخوري ، هغه به ستا ثنا اوصفت کوي .
١٦ـ مه دومره خوږ سه چې څوک دي وخوري اومه دومره تریخ سه چې څوک دي ایسته وغورځوي .
١٧ ـ کوږ بار تر منزل نه رسیږي .
١٨ ـ سل ټکه دزرګر، یوټک داهنګر.
١٩ ـ ښه خوی به دي سلطان کي ، بد خوی به دي پرځان پوري حیران کي .
٢٠ ـ مه کوه په چا چې وبه سي په تا
٢١ ـ د چا د روازه مه وهه په نوک ، چې ستا دروازه به ووهل سي په سوک .
غـر که لوړ دی خو لاره پر سربیره ده .
٢٢ ـ چې بخت یې تورسي د ښمن یې دپلا ر کور سي .
٢٣ ـ خواري لوري تخت به زه درکم بخت دي خدای درکي .
٢٤ ـ د ګونګ په ژبه خپله مور ښه پوهیږي .

# خوشحال خان خټک

خوشحال خان خټک په ۱٦۱۳م کال په اکوړه کي زيږيدلی او تر ۱٦۹۱ م پوري ژوندی ؤ. دپلار نوم يې شهبازخان نوميده ، دنيکه نوم يې يحيا خان نوميده .

خوشحال خټک يو قوم پرست او د پښتنو د ملي مبارزينو د جملې څخه دی ، هغه په توره او قلم سره نامداره اومشهوره وو . هغه هم دادب دميدان پياړی اوهم دتوري دميدان ننګيالی مبارزوو . هغه ته دنړۍ ولسونود(ننګيالي پښتون ) اوتوريالي پښتون لقب ورکړی دی . خوشحال خټک دپلار دمړيني وروسته په ۱٦٤۱م کي په خاني او مشرتابه وټاکل سو .خوشحال خان خټک د مغولو د پاچهۍ پروخت داورنګ زيب پاچاپه دوران کي ژوند کاوه. اويونيم کال يې داورنګ زيب په امر بنيدخانه تيره کړه . هغه برسيره پردې چي ډير عمر يې په سرګردانۍ ،فرار اوښکار کولوکي تير کړي دي خو بيا يې هم ، په پښتو ژبه کي تر درې سوه ډ يرعلمي اوولسي اثار ليکلي دي. چي د نوموړي ليکني هم په نثر اوهم په نظم کي دي . او دپښتودملي ادبياتو په پراختيا کې دقدر وړ خدمتونه کړي دي. دهغه يولړ کتابونه او ليکني دوخت دتا ړاکونو په سبب دمنځه تللي دي خو موږته يې يوازي نومونه راپاته دي.اودهغه نامتو کتابونه چي زموږ په لاس کي دي عبارت دي .

دخوشحال خټک ديوان : ـ چي تر څلويښت زرو ډير بيتونه لري .

فضل نامه :ـ يود ينې کتاب دی چي پر مذهبي مسأيلوليکل سوی دی.

دستار نامه :ـ يو ولسي کتاب دی چي د پښتنو دودونه ښووي .

طب نامه ـ سوات نامه ـ بازنامه ـ دپښتنو تاريخ ـ ائينه اوداسي نور مهم کتا بونه لري .دده په دې اثارو اوکتابونو کي دټولنيزي پوهي مختليف اړخونه پراته دي . لکه : دپند خبري ـ سياست ـ توره اوننګ ـ ښيګڼي ـ وفا داري ـ علم ـ هنر ـ هيواد پالنه ـ دوستي ـ عشق اومحبت ـ انتقاد ـ انسان دوستي اوداسي نور .اوهمدغه رنګه خوشحال خان په پښتو کي غـزل ـ قصيده ـ رباعي ـ قطعه ـ مثنوي مسد س ـ مخمس اودشعرنور ډولونه رواج کړل.خوشحال خان ته دپښتوژبي دادب پلارواي . خوشحال خان د۷۸کالو په عمر په ۱۱۰۰هـ ق (۱٦۹۱م) کال کي مړسواودهوډې دغـره ترخټک ښخ سو (روح دې ښاد وي ) .

دخوشحال خان د شعر يوه بيلګه په لاندي ډول سره ده .

## خپل يار ته

يارمي ذ وق د تماشې کا له اغياره
زه فرياد نارې وهم چي ياره ياره
دخاطر طمعه مې هسې رنګه نه وه
چي به هسي رنګه ظلم کا يک باره
چي يک لخته مې وباسي له خاطره
فراغت به شي زما د زړه له زاره
مګرخون زما په شرعه کې رواشو
چي جلا د مې ويره نه کاله آزاره
زه حيران وم په داکارنه پوهيدلم
چي ګناه مي ثابت نه زه ګناه ګاره
هو! دايوګناه لرم زه ګناه ګاريم
چي په تا باندي خاوند کړم مينه داره
که داستا مينه ګناه زه ګناه ګاريم
که داستا مينه بدکاردی زه بد کاره
ګڼې بل ګناه زه نه وينم په ځان کښې
نور ستم راباندي مه کړه ستم ګاره
زه سينګارد صورت وکړم په اميد شم
چي به ته په ما پيره راوړې دلداره
ته پيره په ما ونه کړې دل مانده شم
وشرميږم دهمه خپله سينګاره
لکه بند بلبله تاؤخورم په قفس کښې
چي جدايم ستا د وصل له بهاره
په وګړي زما ستا مينه ښکاره ده
چي مين دې په فلا نی فلا نه بې شماره
داچي اوس په ما جفاجور هميش کړې
تروګړي پوري زه يم شرم مساره
د وګړي دپيغوره به يې خلاص کړې
که له خپله وصله ما کړې د ل قراره

که ته وګوري داشرط د مينې نه دی
چي په مينه کښې ته روغ ئې زه بيماره
د ليلا اود مجنون مينه په يادکړه
مګرنه د ه دا خبره د راظهـــــا ره
چي فصاد يې په ليلانشتر ګذارکړ
د مجـــــون د رګه تله د وينوداره
په معنا کښې سره دوتنه يوتن کا
محبت هسې اثر لري ای ياره
معشوقې مې وعاشقوته ويل کړه
دادد وی له حاله وشول ځوګفتاره
ما خوشحال څه دا اشعارويلي نه دي
يواسرارمې هويدا کـــــــړله اشعاره

خوشحال خان دخيال اوفکر په لحاظ دپښتواوپښتنولۍ يوښه مثال دی ،دده نظراواحساس دپښتني احساس تابع اوپښتنولي پرې غالبه ده لکه چي وايي :

دجهان د ننګياليو دي دوه کاره
يا به بايلي ککرۍ يا به کامران شي
زه خوشحال کمزوری نه يم چي به ډار کړم
په ښکـــا ره ناري وهم چي خوله يې را کړه

اوهمدغسي دغيرت اوننګ نوري حماسې هم لري .

## قيصه (کيسه)

## لرګي ماتونکی اوزمری

نقل دپخوا څخه پا ته دی : يوه ورځ په لوړ کلي کي ، په ځنګله کي يوه زمري په تنهائي سره ژوندکاوه او په خپلي تنهائي به ډير ځوريده، هيڅ يو انډيوال اوملګری يې نه درلود. چي ورسره راز او نياز وکړي ، هرڅه يې درلودل ، خو بيا هم دتنهائي په وجه يا سبب نا خوښه وو. يوه ورځ په نا څاپي توګه ځنګله ته يو لرګي ماتونکی راغی او دلرګيو په لټه کې دونوغوره ځانګي ځانته ولټولې.او دورځي په نيمائي کې يولړ بوټي اوښاخونه سره راټول کړل. خو خپله هم ډير ستړی شو. نو يې ددرختي (ونـي ) تر سيوري لاندي ډه ډه ولګوله او په خواړه خوب بيده سو.خوب

یې د یردروونداووږد سو. دخوب په جریان کي یې دخوب اوږده،اوږده ږغونه او (خرهاری ) له خولې څخه راوزي چي دډېره لیري اوریدل کیږي . په دې وخت کي نوموړي ږغونه زمري واوریدل اوحیران سو،چي نوموړي ږغونه خو شناخته نه دي .نو یې په تلوار دږغ پرلوري را ودانګل ، چي ګوري یو لرګي ماتونکی بیده دی. اودخولې څخه یې ږغونه وزي . نو زمری چي خپلي تنهائي زوق لولی یا خسته کړی وو، دلرګي ماتونکي په لیدوسره خوښ سو . اودهغه دخوب طریقه یې هم خوښه سوه . نو دانتظارپه خاطر ورته کښیناست ، څه وخت چي لرګی ماتونکی دخوبه را ویښ سو نو دزمري په لید وسخت وارخطاسو. او زمري خپل سر دملګرتیا په عنوان او خاطر کښته وا چوه. خو برسیره پردې هم لرګی ماتونکی دومره وار خطاسو چي بې هوښه سو، زمری وارخطاسو چي دا څه وسوه ؟ نو سمدلاسه یې دلرګي ماتونکي په خولۍ یا ټوپۍ کي یوه اندازه اوبه راوړلې .او دلرګي ماتونکي پرمخ یې وروپاشلې،لرګي ماتونکی جست یا نیغ کښیناست اودستي زمري ولرګي ماتونکي ته ددوستۍ وړاندیزیا پیشنهادوکړ. هغه ددوی دوستي سوه . نورنوهره ورځ لرګی ماتونکی لرګي ماتوي؛ او زمری ښکاروړته کوي .خو زمری دخپله ښکاره څخه یوه برخه ولرګي ماتونکي ته ورکوي اوهغه یې کورته وړي او هغه دښکارغوښي پخوي اوخوري.یوه ورځ لرګي ماتونکي وزمري ته دمیلمستیا وړاندیزو کړ اوهغه هم وړاندیزومانه.خو کله چي په کورکي یادونه وکړه ، نوهغه ټوله وبیریده ،په ډېره بیا دلرګي ماتونکي ښځه . لرګي ماتونکي وخپلي ټولي کورنۍ ته داډ ورکړ، څو هغه یې ودې ته وهڅول چي دزمري میلمستیاومني .او په هغه بله ورځ زمری دلرګي ماتونکي سره یو ځای کورته را غلی او په کورکي دمیلمه په څیر ونمانځل سو. او دکورنۍ غړي په تیره بیا ماشومان ډېر خوشحاله سول . اودهریوه په خوله کي خندا او خوشحالي ځرګندیږي . زمری هم ددوی په خوشحالي خوشحاله سو.دلرګي ما تو نکي ښځي آش پاخ کړی وو.اوهغه یې پرد سترخوان کیښود.خو زمری نه پوهیده چي آش څرنګه خوړل کیږي.نوهلکانوزمري ته دستمال وروتاړه څو! دزمري پرشاوخواآش توی نه سي . خو زمری اوس ځان یوازي نه ګڼي.او دلرګي ماتونکي دکورنۍ سره یې ډېرسات تیر دی . او

هره ورځ دکورنۍ وړونجونو او هلکانو ته دځنګله يوه ،يوه کيسه اوروي . او دشپې دخوا زمری دباندي بيديږي اودکورنۍ غړي په کوټه کي . ورسته له هغه لرګې ماتونکی او زمری دځنګله پرلوري روان سول. او دلرګي ماتونکي دکورنۍ څخه يې دخدای په اماني په داسي حال کي واخيسته چي ، دنا اميدۍ اوښکې ئې تويدې . دزمري او لرګي ماتونکي دوستي يوه حد ته ورسيده .ترڅو يوه ورځ زمري او لرګي ماتونکي يودبله سره لوبي کولې ، دلوبوپه وخت کي دزمري له خولې يوه اندازه بدبوي راپورته سوه او لرګي ماتونکي زمري ته په خښم اوسپکاوي سره وويل: (چي د خولې دي بيخي بد بوی ځي ). زمری په دې خبرې سره ډير خواشينی سو . اودمايوسی په چورت کي ولاړ.نو سمدلاسه يې ولرګي ماتونکي ته وويل :( تبر راواخله اوما پردغه سرووهه ) لرګي ماتونکی وارخطا سو اووې ويل :( زه تانه وهم ) زمري وويل :( که نه خورم دي) لرګي ماتونکي تبر را واخيست او زمری يې په سر په تبر ووهه .او ځيني ولاړ ، خو دبيري يوکال بيا ځنګل ته نه وتللی ، يوکال ورسته ځنګله ته ولاړ څو دزمري حال واخلي اولرګي هم را ټول کړي . که ګوري چي زمری روغ رمټ اوجوړسوی دی. نو يې دزمري څخه وپوښتل : (دوسته څه حال دي دی ؟) زمري په ځواب کي ورته وويل :(ښه يم ،هغه ستا دتبر ټپ جوړسو؛خو هغه دژبي اوبدي خبري ټپ دي تراوسه هم راسره دی .) نوځکه دغه متل دی چي دتوري ټپ جوړيږي ؛خو دژبي ټپ نه جوړيږي يا وايي: خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده.

## مــلـــي پـيـوســـتـون

هرهيواد په خپل منځ کي دخلکو ملي پيوستون اويوالي ته اړتيالري.بيله ملي يووالي څخه هيوادوټيزيا اقتصادي پرمختګ نه سي کولای . نو په هغه هيوادونوکي چي ملي يوالی او پيوستون نه وي ، هميشه به يې هيواد دستونزو، فقر،بدبختۍ اورنګارنګ فسادونوسره لاس اوګريوان وي. خودا اصل په ټوله نړۍ کي د حساب وړدی .

زموږګران افغانستان چي دافغانانو ګډکوردی،دډول،ډول قومونو ، ژبو اونژاد ونو څخه جوړسوی دی . خوپه دې خاوره کي چي دقانون تر سيوري لاندي هر قوم ، هر نژاد اودهري ژبي خلک ژوند کوي هغه

ددې ملت بچیان دي،هغه دلته دیوه افغان په نوم یادیږي اوټول افغانان دي. ملي یووالی پردغو څواصولوولاړدی .
لومړی : دخلکواوولسونوترمنځ تاریخي اړیکي ،اوګډي تاریخي لاسته راوړني ،چي ټول ملت پرې ویاړي.
دوهم : دخلکواوولسونوترمنځ ګډ کلتور،ګډه پوهه اوګډ دوداودستور چي دټول ملت استازیتوب کوي .
دریم : دملت دخلک اوولسونه په یو ځانګړی جغرافیاوي حد او روښانه برید یاسرحد یا روښانه قلمرو چي ور ته ګډ جغرفیاوي موقعیت یا هیواد هم وایي اوسیږي.
څلورم : په هیواد کي د ننه ګډ وتیزیا اقتصادي حالت چي دټول هیواد ملي شتمني وګڼل سي او ملي شتمنۍ څخه دهیواد هر وګړی دهیوادپه هره برخه کي چي وي ګټه واخیستلای سي .
زموږ په ګران هیواد افغانستان کي ډول ،ډول قومونه اوسیږي لکه :پښتانه ،تاجک ،ازبک ،هزاره ، ترکمن ، پراچي ، نورستانی ،بلوڅ ، هندواو پشئي قومونه اوداسي نوردي .چي په بیلا بیلو ژبوخبري کوي .
خو ټولوباندي خپل هیواد افغانستان ګران دی.اودهغه په ساتنه کي دهیڅ ډول قربانۍ او سرښندني څخه ډډه نه کوي. افغانستان ټولوافغانانو ته دمور په شان ارزښت لري، په ابادولو کې په ګډه زیارباسي. دتاریخ په اوږدوکې افغانانوپه ګډه دافغانستان پولي ساتلي دي. او خپل ګران بچي یې دملي یووالي او دخاوري دساتني دپاره قربان کړي دي.نن ورځ چي پرافغانستان باندي ستونزي اوجنګونه دبهرنیو هیوادوپه لمسون سره تپل سوي دي ، دافغان ملت ټول بچي په دې جنګ اودجنګ په لمبوکي سوځي.نوکه بیا هم زموږ دهیواد ملي یووالی ټنګ سي نو بیا به داداورلمبې هم مړې سي. که موږ د افغانستان په تاریخ کې پلټنه وکړو نودابه راته څرګنده سي ، چي زموږ نیکونو دغه په میراث راپاته سوی افغانستان په ټنګ ملي یووالي سره ساتلی دی. اونن موږ.په خپلې خپلواکۍ ویاړکوو. احمدشاه بابا اومیرویس نیکه چي دنوي افغانستان په جوړونه کې پوره زیاراوزحمت وکیښ ، هغوی تر هرڅه نه مخکي ملي یووالي ته پاملرنه کړیده. اوتر دې لا مخکي دمحمودغزنوي په دوران کې چي ملي والی ټینګ او قوي بنسټ درلود،دافغانستان پولي دګنګا

درودځخه خوړې سوې اوددجلې اوفرات ترغاړوغزېدلې وې . حتا سلطان مسعود دمحمود غزنوي زوی غوښتل چې ټوله اسلا مي نړۍ دافغانانو تر بيرغ لاندې راولي ؛ خوپه دې وخت کې سلطان محمود غزنوي وفات سو.
اوتر غزنوي دورې ورسته ،هم دغوري، سوري ، لودي ، هوتکو او در انيانوتر دورې پورې ټول فتوحات دملي يووالي په برکت سوي دي.
لوی احمدشاه بابا چې پاچاسو اولين کاريې دافغانانوويوالي ته وکړ.اوديوې لوئې جرګې په وسيله يې ټول افغانان سره يوموټې کړل. اود ملي يووالي په مرسته يې ډيرې برياوې په نسيب سوې.چې په خپله احمدشاه باباپه خپل يوه شعرکې داسي وايي:

ټوله يودي که غلجي دي که اودلی
ښه هغه چې يې دزړه مينه صفا ده
چې عمل يې د نيکۍ وي ميړه هغه
که اغـــوستې يې ګـــډله دخمتـا ده
پښتانه دې ټوله لاس سره يوکاندي
چې مونن غـــزا هر لوري شاوخواده

پښتانه ښائي چې دخپل تاريخ په دغه ارزښت تل وپوهيږي ،چې ټولې برياوې زموږ په ملي يووالي کې دي .اووې به،نوکه موږ خپلې برياوې په تيرو دوروکې لوستي وي نودابه راته جوته سي ، چې هغه وخت زموږپه خلکوکې ملي پيوستون وجوددرلود.اودافغانانو بيرغ پريوې لوې امپراطورۍ رپيده ،دايوازې دملي يووالي اوپيوستون برکت ؤ.اوبس! .

## لنډ ۍ

په پښتوادب کې موږ يوډول ملي اشعارلرو چې دلنډۍ په نوم يادېږي .لنډۍ چې دپښتني ادب يو غوره او فلکلوريکه بيلګه ده په پښتني سيموکې په پراخه پيمانه سره استعمالېږي.لنډۍ يو ځانګړی فولکلوريک ادب دی.چې دپښتنودتوکم اوقوم استازيتوب کوي.لنډۍ هم دشعري جوړ ښت له کبله دنورو شعرونودشعردنوروډولونوسره توپيرلري . داځکه چې دلنډۍ لومړی نيم بيتی نه (۹) سيلابه وي ،خودوهم نيم بيتی يې ديارلس ( ۱۳) سيلابه وي .چې دغه فورم په نورو اشعاروکې نه تر

سترګوکيږي ـ په لنډۍ کي قافيه ضروري توکم يا جزنه ګڼل کيږي ـ لکه په مقفه شعرونوکي. چي دبيت په اخير کې قافيه اورديف په نظرکي نيول کيږي. دلنډۍ شاعر معلوم نه وي خو دو لسو نوپه مغزواو ذهنونوکي ځای لري ـ دهر پښتون لنډۍ خوښي اوزده دي .

لنډۍ اوناري : په افغانستان کي دپښتنوپه سيمه کي لنډۍ اوناري رواج لري.چي خورا اوږد تاريخ هم لري. چي زموږسره داسي لنډۍ اوناري هم سته چي په تاريخي لحاظ يې تاريخ له زرو (١٠٠٠) کالوڅه هم اوړي. اودسلطان محمودغزنوي دعصرنماينده ګي کوي.لکه دغه لنډۍ :

چي دخالولښکرې راغلې
زه به ګومل ته دخپل يار ديدن ته ځمه

لنډۍ هم دپښتنوپه ادبي تاريخ کي سته . لنډۍ په اصل کي دپښتنو هغه مال دی کوم چي دپښتنو واقيعي څيره په کښي تمثيل ده . لنډۍ په افغانستان کې يو سيمه ايزارزښت لري. داپه دې،چي دپښتنودادبي ذهنيت محصول اهنګ داره نظمونه دي. او بل داچي دپښتنوپه بيلا بيلو سيموکې ډول ، ډول لنډۍ مونډلای سو ، چي دهغه سيمي نماينده ګي کوي . دبيلګې په توګه دغه تاريخي لنډۍ ، چي دکندهار دشالمار دميلوسره اړيکي لري .

وايي : دبوټو ټنۍ ټرې ګله پرکمه راڅه ځې
دبوټوټنۍ ټرم دشالمار ميلې ته ځم

په دې کي شک نه سته چي لنډۍ اوناري ډول ، ډول دي اوپردغه درو برخو يې ويشلای سو .

١ ـ تاريخي لنډۍ اوناري: ـ هغه لنډۍياناري دي چي دتاريخ يوه مرحله روښانه کړي ، لکه چي په دغه ناره کي وايي :

وپانسۍ تې خيژوی
شيرجان سګريټ ولګوی

يا وايي : دشيرجان توري ځڼکي
پانسۍ پورته که دمځکي

يا وايي : په شيرجان پانسۍ پسې

ولاړی غیرت دزمانې
دوهم عشقي لنډۍ :ـ هغه شعرونه دي،چي د ميني اظهارپه کښي څرګندوي . کله دهلک له خولې د ميني اظهار کيږي اوکله هم دپيغلي يا دانجلۍ دخولې اح خيژي ! لکه چي وايي :
جانانه راسه چي پخلا سو
عمر کوتا دی آرمانجن به پاته سونه
يا- وايي: جانانه بدمې آموخته کړې
چي خوله درنه کړم مرور ګرځې مينه
دريم : حماسي لنډۍ:وهغو لنډيوته وائي: چي دجنګ په ميدان کي ويل سوي دي. اويا دجنګ تمثيل په کښي څرګندوي. چي داډول لنډۍ زموږپه فولکلوريک ادب کي خورا ډيري دي دبيلګې په توګه دميوند دغزا لنډۍ چي دپيغلي ملالي له خوا داسي ويل سوې ده :
که په ميوند کي شهيد نه سوې
خدای ږو!لاليه بې ننګی ته دي ساتينه
نوموړې لنډۍ چي دميونددتاريخي غزا نماينده ګي کوي. دانګريزانوپه مقابل کي يوه حماسي لنډۍ ګڼل کيږي .
يا وائي : جانان مي سر پروطن کيښود
په تار دزلفو به کفن ورته ګنډمه
همدغسي لنډۍ که حماسي وي يا عشقي اويا هم تاريخي يووزن لرونکی نظم دی . چي په پښتني سيموکي په زرهاو بيلګې يا نمونې يې سته .
په پښتو فولکلوريک ادب کي ، پر لنډيو برسيره نور هغه وزن لونکي شعرونه هم سته چي ،دپښتنوباندارونه په ګرم. اوپه پراخه پيمانه تر نن ورځي پوري استعاليږي . لکه : داتڼ سندري ، نارې ، څلوريځي ، دواده ډول ، ډول سندري ، داځکزوغاړي اودکاکړو غاړي چي په کاکړي غاړو سره شهرت لري . اوس به د بيلګې په توګه دڅو لنډيو يا دونه په لاندي توګه وکړو. څو دلنډۍ نظم مو پيژندلی وي .
پښتانه واړه شنه زمريان دي
چي ځای يې راسي په سيالي سرورکوينه
***
سرمي له تن څخه جلا کی

که مې پګړۍ دبې ننګۍ ترلې وينه
***
وطن له مورو پلاره ګران دی
ژوندی دپلارمړی به مځکې له ورځينه
***
قبرمې جوړ پرلو يوغر وکه
چې دوطن شمال مې شنا ختې ووهينه
***
د آزاد ۍ په لار کې مړ شې
چې جنازه دې دآسمان ملکې وړينه
***
ارمان دې نه کړي هغه ميندې
چې خپل زامن دوطن زيار ته لويوينه
***
توره کول سرورکول بويه
که دې په کاروي چې ځوانان دې يادوينه
***
د لو يو غرونو سيل مې وکړ
اوس مې يادېږي دشنکي وطن باغونه
***
خدای مې دې درولې وطنه
داڅه ژوندون دی چې بې تا بړدم قدمونه
***

## ټولنيزې لنډۍ

تل په زحمت پسې را حت وي
چا چې زحمت ليدلی وي را حت به وړينه
په د نيا مه نازېږۍ خلکو
دنيا فانې ده په آرمان به ځينې ځونه
***
په اصل څوک نه سړی کيږي

سړی هغه دی چې يې خوی دسړي وينه
***
دسردښمن مي هوښيار ښه دی
زه د بېعقله په دوستۍ ستومانه يمه
***
## يوڅو حماسي لنډۍ
تر توريالي مين به جارشم
چې دغليم په وينو سره کاندي لاسونه
***
پرننګ که ومرم ماتې نه کړم
ځکه پرما د پښتا نه نو م يا د و ينه
را شه پر قبر مې اور بل کړه
که مې پر مړينه پر شاووينې ټپونه
***
توري به نه کړو نوبه څه کړو
چې مو شيدې دپښتنې رودلي دينه
***
بيرغ مـې سور پرقبر هسک کړه
په شهادت دخپل وطن ، جنت له ځمه
***
په تور ټوپک ويشتلی راسې
دبې ننګۍ احوال دې مه راځه مينه
***
غازي په لوړه غونډۍ کښيږده
چې يې زيارت کا د ګيلان ملالې نجونه

## مير من نازو انا
نازو انا دسلطان ملخي لور اوپه کال ۱٦٥١م کي دتازي په کلي کي زيږيدلې وه. او پلار يې سلطان ملخي وچي. په هغه وخت کې دجلدکه بيا تر غزني دقوم مشروو. هغې په کوچنيوالي کي دپلار او نورو پوهانو

سپین ږیرو څخه زده کړه کړیده. او باجراته ، میړه مخې او سخي ښځه وه.

څه وخت چې پلار ددښمن سره په مخامخ جګړه کي وسره غره ته نژدې شهیدسو.نو دنازوورورجنګ ته ولاړ. اونازوانا هم په دغه وخت کې توره تر ملا اود کلا په ساتلوکې ددښمن سره په مخامخ جنګ کې ولاړه وه . نازوانا به تل دمیلمنو خدمت کاوه. او دمسافرانو قافیله به ددوی پر کور میلمانه وه. اوهغه غریبانو چې به لباس نه درلود. هغوته به یې کالي اولباس ورکاوه.هغه په مهربانۍ اوغریب پالنه اودسخاوت په نوم نوم درلود. نازوانا دښاالم خان هوتک ماندینه او څلور زامن یې درلودل.لکه:حاجي میرخان ـ عبدالعزیزخان ـ یحیا خان او عبدالقادرخان. ترټولو مشریې حاجي میرخان نومیده . نوڅه وخت چې حاجي میرخان وزیرږیده نونازوانا هغه په پښتني روحیه،پاک سپیڅلی رښیتنی او دهیوادپالني په سپیڅلې روحیه وروزی.اوهمیشه به یې دهیواد پالني درسونه ورکول. څو هغه هم دهیواد په ساتنه کې خورا لوی رول سرته ورساوه .او هیواد یې دغلیم له منګولوڅخه وژغوره .داځکه چې موریې هم د لویو کارونو وصیت ورته کاوه .

څه وخت چې په ۱۷۰۹م کال کې دهیواد امنیت دایراني ګورګین له خوا په خطر کي سؤ.اوګورګین په کندهار کي دایراني حکومت استازی ؤ. هغه یې وواژه اودحکومت واګې خپله پښتنو ته ور نقل کړې. او دیوې لوئي جرګې دخوا یې په هیواد کي یو لوی او پراخ بنسټه پښتني حکومت جوړکړ. نازوانانه یوازي سخي او مبارزه قهرمانه میرمن نه وه.بلکي؛ هغه یوه پوهه، سیاست مداره شاعره ادیبه ښځه هم وه.چي دشعریوه نمونه یې په لاندي ډول ده .

سحرګه وه دنرګس لیمه لانده
څا څکي ، څاڅکي یې له سترګو څڅیده
ماوېل څه دي ښکلی ګله ولې ژاړې؟
ده وېل ژوند مې دی یوه خوله خندیده

## ټوکــه

یوه ورځ یوه زرکه دیوې ډبري پر څوکه ناسته وه. او خوب یووړه.په خواږه خوب بیده سوه. دلیري څخه دیوې ګیدړي سترګي پرومښتي .اوپه

قرار،قرار يې خواته را نژدې سوه.خو زرکه دومره په خوا.ره خوب ويده سوې وه،چي دګيدړي په را تګ سره هيڅ هم خبره نه سوه .ګيدړي نابېره حمله پرې وکړه. او ښايسته زرکه يې په خپلو تيرو غاښوکي ټينګه ونيوله. اود خوشحالۍ څخه ټوپونه وهي.زرکي هم سمدلاسه دځانه سره سوچ او فکر وکړ، چي وخويې خوړلې نوته راسه يوه غوښتنه ځيني وکړه.ګوندي ددې غضبه خلاصه سې، نوئې پر ګيدړي ږ.غ وکړ. ګيدړي خاله! زه خودي ونيولم.او خورې مي ؛ نوداخوښه خبره ده. خو زما هم يوه غوښتنه په اخير دعمر راپوره کړه . هغه داچي زمو.ږ دپلرو او نيکه ګانو راپاته سوی دود دی. چي هر نعمت پيدا کړو؛نو مخکي له دې چي هغه نعمت وخورو. خو لومړی پر نعمت شکر کا.رو. او بيا هغه خورو. تر څو دخدای شکر مو ادا کړی وي . ګيدړي هم فکر وکړی چي داخو ښه وايي.لو مړی به شکرادا کړم اوبيا به دزرکي نازکي غوښي وخورم. نو ګيدړي هم سمدلاسه خوله خلاصه کړه او غټ شکريې وکيښ اووې ويل : (خدايه شکردی) . په دې وخت کي چي ګيدړي په بې احتياطۍ سره خوله خلاصه کړه؛ نوزرکه يې هم له خولې څخه په هوآ سوه اوولا.ړه. ليري، پر يوه بله لو.ړه ډېره ورته کښيناسته. او پر ګيدړي يې ږ.غ وکړ: ای بيعقلی ګيدړي!( هغه خوله دي ماته سي چي نعمت يې نه وي خوړلی اودآ دخدای شکرادا کوي.) اوپه ټوکو،ټوکويې پروخندل. ګيدړه هم چي ډيره پريشانه وه .او مفت ښکار يې دخولې څخه وتلی ؤ،په ډير خښم او غضب يې په ځواب کي ورته وويل ( هغه سترګي دي ړندې سي ، چي وخت دخوب نه وي او دې سترګي پټي کړي وي .)) .

## دساعت ږ.غ

## وخت لکه سره زر

دساعت په ټکهاري وخت تيريږ.ي
زمانه راڅخه درومي نه تميږ.ي
په هر ټک کې ارزښت پروت دی غافله
قافيله ده چي تيريږ.ي نه تميږ.ي
په هيله ،هيله که وخت درڅه تيريږ.ي
نن ګړی به سبا کله پيداکيږ.ي
دحسرت په پراخ جهان کې ټنبل مه سه

په فکرونو جهان کله سمسورېږي
دعمل قلم را واخله لار روښا نه
معنوي ارزښت کتاب کې پيداکيږي
که وخت دلاسه ورکې بيا ارمان کړې
بس هغه ګړی دي بيرته بيداريږي
دځوانۍ عمرکه تيرکړې په تدريس کې
په اخيرکې منصبدار درڅه جوړيږي
لکه ونه داميد کښيږدې په کورکې
دهغې ونې ثمرتاته رسيږي
که افغان ولس دوخت په قدر پوه سو
نو حکومت به دبيعقلو نه چليږي
که دي ژوندون مراد خوشحالۍ وي
خوشحالي هم په زمان کې پيداکيږي
دنن کا ر وسباته تعطيل مه کړه
په سبا کې نورکارونه پيداکيږي
که هرځوان دوخت په پوهه کې غلط سي
دځوانۍ عمرد ګل په شان رژيږي
عالمانو وخت په( ټي ) باندي ښودلی
دا د(ټي) په ارزښت لږخلک پوهيږي
فلسفه کې دزمان اودمکان اصل روښانه
کله جسم بې زمانه بې مکانه پيداکيږي
دادنن بڅرکی اور غوندي روښانه
په سبا بې روښنايي هم خاموشيږي

## علم اوبخت

که سپين اوسره يې په کورکې تل وي
چې نه يې علم نه يې عمل وي
بنيا د يې نــه شته آخر به خوارشي
بخت به تر کومه ورسره مل وي

( عبد ا لقادرخان ختک )

# خپله ژبه

هيڅ ملت له خپل اساسه سوانه دی
دملي ژبي خوند هيردهيچا نه دی
هر سړی دخپل وطن په ژبه ښه ايسي
په پردۍ ژبه څوک يادپه دنيا نه دی
که يې يادې وي سل ژبي په دنيا کې
چې يې خپله ژبه نه زده ملأ نه دی
ته پښتووايه پښتونه له دې ننګه
چې وطن دې په نوم ياد دپښتانه دی
که اوبه په منځ وهي بيلي به نه شي
دوطن نوم له هيچا نه جدانه دی
له پښتونه به پښتو کله شي پاته
په همت کي پښتون کم له هيچا نه دی
که غيرت دی که همت که شجاعت دی
هر يو ختم دپښتون په خيل خانه دی
دپښتون دهر عسکر شجاعت ګوره
مساوي يې دی غيرت اوکسرانه دی
دپښتون زيب وزينت توره توپک دی
لکه ښځه دلباس په سودانه دی
ای (( اخلاصه)) دپښتون توره ښکاره ده
لـــکــه لـمـر چې پټ پنا په د نيا نه دی

# دليک نخښي نښاني

دليک نخښي نښاني ديوې ښې ليکني دپاره دومره ضروري دي. لکه په خوړو کې چې مالګه واچول سي. نوکه موږ غواړوچي سمه ليکنه وکړو. نولازمه ده، چې په ليکنه کې دجملو وښه ترتيب اوروان ليکلوته پاملرنه وکړو.نوهغه وخت زموږليکنه ښه لوستل کيږي. چي موږ په خپله ليکنه کې دليک نخښي نښانې په صحيح ډول پرخپل ځای را وړ و.څوکه موږپه دې ونه وپوهيږو،چي جمله چيري پيل سوې ده؟ اوبيا

چيري ختميږي؟.نوموړ.په لوستلوکې دليکني دستونزوسره مخامخ کيږو.
يوه سمه ليکنه موږ ته دهغه دسم لوستلوپه بنسټ را معلوميږي.اوسم لوستل بيا اړيکي پيدا کوي ؛دليک نخښونښانو دصحيح استعمال سره .
داچي دليک نخښونښانوارزښت په نسبي ډول راته څرګنده سو.نودليک نخښي نښاني،بايد وپيژنو.چي په لاندي په لاندي ډول دي .

لومړى : - ( ، )

لوموړې:علامه چي د (او) په عوض کې استعمالیږي . نوموړې علامه دوينا دانفصال يا فاصيلې په خاطراودجملودبيلولوپه خاطر استعما ليږي. لکه: په دغه جمله کي . چاى ، بوره اوپنير سهارښه خوند کوي . کور،کالي ، ډوډۍ دانسان لومړني ضرورتونه دي .

دوهم :- (؛)

داعلا مه چي دشاريې،وقفې اوتم کيدوعلامې په نوم سره ياديږ ي.
نوموړې علامه د ليکلواولوستلو يوه مؤقته فاصيله رامنځته کوي .لکه په دې عبارت يا جمله کي: مځکه دهغه چاده چي کار پرکوي ؛ نوهرڅوک بايدپرخپلي مځکي خواري وکړي اوحصول يې وخوري.

دريم :- (.) .

ټکى په جمله کي خورا ډيراستعماليږي اوټول وخت دجملې په اخيرکي راځي .خو؛په حسابي معاملوکښي بيادعددونودډيروالي په وخت کې استعماليږي ، خوپه جمله کې په دې ډول استعماليږي. لکه : دهيواد ماشومان پرموږحق لري.موږبايددهغوى سره مينه ولرواوهغوى ته ددرس ښه زمينه برابره کړو.

څلورم : - (: ) .

دوه ټکي: سرپرسر په جمله کي يو دمهموعناصرودجملې څخه شميرل کيږي. نوموړې نخښه هغه وخت په جمله کې داستعمال وړګڼل کيږي.کوم چي دلومړۍ جملې وتوضيح اوشرحي ته ضرورت پيداسي.
لکه : درې کاره په لوبوکي ضروري دي : يوبه دلوبووخت معلوم وي بل به د لوبوځاى اودريم به دلوبو کسان معلوم وي.

پنځم : - ( - ) .

داړيکوعلامه ؛ نوموړې علا مه چي په پښتوليکنه کې يې ارزښت ډيردى .په دوه ډوله استعماليږي .

لومړی : په حسابي ليک دود کي : هغه وخت چي يوعدد دبل عدد څخه کميږي نونومونږ علامه په کارلويږي .لکه: ٦ـ ٣ = ٣
دوهم : په جملو کې داړيکو دعلامې استعمال هغه وخت پرځای دی ،کوم چي مونږ غواړو چي ديوې کلمې اړيکي دبلي کلمې سره راولو؛نود اړيکو نخښي ته ضرورت دی. لکه: په دې جمله کې . ټولګی پر ١٠ـ ١٢ کسوهم جوړيږي . يا زمونږ ښونځی دوه ـ درې ټولګی نوري غواړي.يا وايو واده ته څوتنه درغلل ؟ واده ته دوه ـ درې سوه کسه راغلل .
شپږم : ـ ( ) .
ددې دوو قوسو په منځ کې نوي نقل قولونه. معترضه جملې .او ديو چا هغه خبري چي دليکني په منځ کي راسي .اودهغه قول يا وينا ښئي. نو ددغو دووقوسونو څخه ګټه اخيستل کيږي . لکه: دپښتويوښه کتاب چي دهر پښتانه ورته ضرورت دی ( پټه خزانه)ده.چي په دې نژدوکي دڅلورم ځل دپاره چا پيږي .اوياهم زما ورور په مجلس کې داسې وويل:( ماهم هغه کتاب خلاص کړ،چي دافغانستان اوسنی تاريخ يې بيان کړی دی).
اوم دتوپير نخښه : [ ] .
نومونږ نخښه چي تفريقيه يا دتوپيرنخښه ورته وايو.هغه وخت راځي، چي ديوه چا په نقل قول کې دبل چا نقل قول توپير اوفرق وسي . لکه : سباوون پرون يوتاريخي کتاب ولوست اودهغه کيسه يې په مهمو ټکوکي داسي راوړې وه [ افغانستان اوه ځلي ايران په خپل قلمروکې راوستلی دی خوايران يې بيا( پنځه ځله مني) . ] چي نومونږ علامه په نقل قول کې ، بيا نقل قول بيانوي .
اتم دياد وني نخښه (( )) .
نومونږ نخښه هم ديوه ليکوال دليکني په منځ کې ، چي ديوه بل ليکوال ليکنه دخپلي موضوع دثقه کولودپاره راځي، نودهغه بيان دخپل بيان دتوپيراويادوني ، په خاطر په دووکوسونوکي نيسي . لکه : دافغان انګليس درې جنګونه دافغانستان په رزمي تاريخ کي يوه مهمه پيښه ګڼل کيږي.اوپه دې باب دکتاب ليکوال ننګيالی بځرکی داسي وايي: (( مونږکه

دغه درې جنګونه ګټلي هم دي خو اقتصادموهم په دې جنګوکي وران سوی دی)) .

نهم : دپوښتني نخښه يا ا علامه : ؟

نوموړې نخښه ياعلامه ټول عمر دجملې په پای کې راځي . اوداهغه وخت دضرورت له مخي په جمله کې راځي کوم چي دليکني په جريان کي پوښتنه منځ ته راشي. لکه : زه نه پوهيږم؛چي لرغوني ادبيات خپاره سوي دي ؛ که نه ؟ . خودومره پوهيږم چي کار پرروان دی. اوپه دې نژدوکې به خپريدو ته چمتوسي . ليکوال يې څوک دی ؟ .

لسم : دحيرانتيا نخښه ! .

نوموړې نخښه دتعجب ، حيرت ، امر په وخت کې راځي . اوپه يوه ښه ليکنه کې هميش پرخپل ځای راوړل کيږي. لکه : هو ! ماويلي وه ؛ چي ښه هلک بايد کورته ناوخته دشپې رانه سي . يا پښتانه ! بې اتفاقه دي يا احمده! ته به خامخا ښونځی ته ځې .

يولسم : دلاډيري يادوني نخښه ( ... ) .

نوموړې نخښه هغه وخت په جمله کې راځي کوم چي ليکوال نه غواړي ، چي جمله يې اوږده سي .نوجمله پرې کوي. اوپه عوض کې درې ټکي ايږدي .اوبيا داسي نور ورسره ليکل کيږي .

دبيلګې په توګه : زه په اختر کې عيدګاه ته ولاړم . دمشرانو ليدني ته ولاړم .اوخورا ډيروځا يوته ولاړم لکه ارغنداب، کجکی ،ميونداوداسي نور... . دلته دپای په څلورم ټکي سره جمله ختميږي . ولي دنور ځرګندولودپاره يوازي درې ټکي بس دي . په جنګ کې هم دځان تاوان وي هم دمال تاوان اوداسي نور... . تاوانونه پيښيدای سي .

## دغريب آ خ

نه مې سته لرګی پر کور
نه سته په نغري کي اور
نه لــــرم اميـد د پـــور

چاته به کومه شور

سبا ته زه غمجن يمه
وږ ی اوبـربنډ يـمـه

نه لرم پيسې پرکور

با مونه مې دي اوس لا تور
نه مي سته بړستن پرکــور
نه مي سته نيالي يا نور
هر ژمی پــريشان يــمــه
په ځان پوري حيران يمه
غريب يمه دغم څه جوړ
ژمی ځوروي مى نور
زاړه مي سوله پلار اومور
وســـوځـــم كباب بـــې اور
غـم كوم غـــمجن يمه
غمخورته آرزومنديمه
څنګ ته مي دخان دی كور
كـــارغواړي لــــه ماڅه نور
څومره زه بد بخت يمه
ناست دغم پرتخت يمه
اوس چې ژمی راغلی سوړ
خـــتـــي اوبـــاران سو جوړ
غم يې راته جوړكی نور
سيلونه راځي لورپرلور
غــم كــوم غــمجن يمه
غمخورته آرزومنديمه
كـــاركـــوم ختګريم زه
وژوندته زه خيجل يمه

ټوخي مي داكشره خور
تـــبـــه مـــود ټولـــه كور
نه مي سته دواپركـــــور
نه مي په ډاكتر سي زور
غــــم كوم غمجن يمه
دژوند څه ګيله مند يمه

غمخور ته آرزومنديمه
و يخ ته اند يښ مند يمه
نوکله چي باران سي جوړ
زړه مي راته شين سي نور
کورمي نړوي په زور
کله چي باران سي جوړ
نې سم جوړولاى نور
نه لــــرم سړي د پور
غـــم کـــوم غمجن يمه
دژوند څه ګيله منديمه
***
خان وايي خوشحال يمه
په پوخ بيلډينګ آباديمه
ګـــــدام مي دغـــلې سوپور
ځاى نه سته په ګدام کي نور
غم نه لرم ديخ اوسکور
کله چي باران سي جوړ
حج کوي حاجي سي دى
دکلي لوى قاضي سي دى
هرڅه چي کـــــوي په زور
وايي زړه مې له غريبه تور
هرڅه مي دي خوښ سمسور
ځـــان تـــې لــتـــومه نور
غــم کوم غــمجن يمه
دژوند څه ګيله منديمه
نه غــواړي مکتب پرکــور
نه غواړي چي جوړسي شور
نه غواړي دکلي شور
نه غواړي دپوهي زور

آح! خودغـــــريب پرکور
خنداوې،وي دخان پرکور
وايي! څومــــــره بيغم يمه
دمسکين څه لاس په سريمه
کله مي حاکم پرکور
کله مې مــــلأ پرکور
غـريب ته بې پروايمه
په خپل کارکي اګاه يمه
کله چې خيرات کـــړمه
نو خپل شوکت بالا کړمه
سودکوم سودخوريمه
پرخپلو ګټوسپوريمه
خلــک قضاوت کـوي
زما به تل عـزت کوي
کله چي څوک جوړکي شور
په حا کم بې ډ بومه نـــــور
واح!څومره خوشبخت يمه
نــــاست پرزرين تخت يمه
هرڅه مي دي خوښ سمسور
نه غـــــواړم دځـــان پيغور
په هيوادکې چي انډول نه وي
حــق حــقـوق به برابرنه وي
نو خود به يو د بــل پـــيــغور
چــلـيـږي به قا نــون د زور
وغورځيد بځرکی دانګارداور
سوځي په لمبوکي کلی ،کور
نه سته په نغري کي اور
نه مي سته لرګی پرکور

# د یمو کراسي

داهغه لغات دی چي موږیې په ورځني ژوند کي خوراډیراورو.اوهره ورځ یې،په خپلوخبرواتروکې استعمالوو.په ټولنیزژوندکي دډیموکرا سئ لغات خوراډیراوږدتاریخ لري.ډیموکراسي دولت وهغه دولت ته وائي: چي دخلکوله خوايې ټوله لوړپوړي چارواکي ټاکل سوي وي.خلک او دولت په خپل منځ کي په صلاح اومشوره سره دولتي چاري پرمخ بيايي او هغه څوک چي دداسي یوه دولت پلوي کوي؛هغه ته ډیموکراټان وايي.
نوډیموکراسي یوه یوناني کلمه ده چي ددولغاتوڅخه جوړه سوې د ه .
لومړی ډیمو ـ یعني خلک دوهم ـ کراسي یعني حکومت .
اوس نو موږددغو دواړوکلمو په یوځای کیدو،داسي پوهیږو؛چي دخلکو حکومت پرخلکوباندي.نوموړي کلمه په یونان کې ددوهمي پیړئ په شاوخوا کي استعمال سوه.خوورسته یې په ۱۷ ـ ۱۸ پیړئ کې په اروپاکي عملي بازار پیداکړ.اودپوهانو دتوجه وړ وګرځیده. اوپه ۱۷۹۱م کال کې فرانسویانو په قانون کي وډیمو کراسې ته ځای ورکړ.
او( دخلکوملي حاکمیت پر خلکو باندي.) په قانون کي ځاي کړل سو. نولومړی په فرانسه کې ځوانان اوخلکي ګوندونه په دې باورسول؛چي بې دخلکودګډون څخه حکومتونه دباوروړنه ګڼل کیږي.اوفرانسویانو ددغي تیوری پربنسټ ،په ۱۷۹۱م کال کي دخلکوجمهوریت جوړکړ .
اودخلکواستازي یې دقانون په جوړولوکي وګمارل . اوپه ټولنه کې سیاسي ګوندونو ته آزادي ورکړه . څودټولني په ګټه دډیمو کرا سئ پر بنسټ خپل افکار دخلکووفکرونواوذهنونو ته ورسوي.د ډ یموکراسي په حکومت کي دغه لاندي حقوق خلکوته ورکول کیږي.
دخلکوټاکلي استازي ددولت په چاروکي برخه اخیستل.ـ دګوندونو جوړیدل. ـ دخپرو نو آزادئ. ـ دژوند په ټولوبرخوکې دښځو او نارینومساوي حقوق؛ـ دعقیدواو مذهبونوآزادي. ـ ټولنیزو ملي او نړیوالوانساني حقوقوته در ناوی. اوداسي نور.... اوس چي مو ډ یمو کراسي وپیژندله نوموړته هغه هیوادونه رامعلومیږي چي چیري ډیموکراسي په عمل کې سته اوافغانستان هم د۲۰۰ م کال څخه ورسته یوځل بیا دډیموکراسئ ږغ اوچت کړی دی. خومخکې ترډیموکراسئ یوه مذهبي دیکتاتوري وه .

# دځنګله قانون

ځنګل هغه ځای وي چي هلته،رنګا،رنګ حيوانات ،ځنګلي وني ، رودونه ،ويالې ، غرونه اودرې وي. په ځنګله کې ميوه لرونکي او بې ميوې وني يادرختي وي. په درختواوځنګلونوکې رنګا،رنګ مرغان پيداکيږي .چي ډيرښکلي آوازونه لري. دمرغانوآوازونه په زړه پوري وي.ځيني خلک ځنګلونه دميلو،ښکار اودحيواناتودعلمي څيړنې دپاره خوښوي.خوپه ځنګلونوکي ډيروحشي اوډارونکي؛خطرناکه حيوانات هم سته. لکه:زمری،پړانګ ، شرموښ ،ګيدړه، کوږ،مار، لړم ،غونډ ک غالبوزه ،فيلان ،سمسارې بيزوګانی اوداسي نور....

خوبرسيره پر داړونکوحيواناتو يولړ نور حيوانات هم سته. چي هغه داړونکي نه وي لکه : وحشي غوايان ، هوسۍ ، سوی ، ځيني وحشي بزې ، غرني پسونه او مږونه ، اوداسي نور خزنده ګان ، الوتونکی مرغان اوخطرناکه واحشي حيوانات په ځنګله کې سته .

خوداچي دغه حيوانات په ګډه ژوند سره کوي اوديوه اوبل په غوښو ژوندي پاته کيږي، دوی په خپل منځ کې يودبل په خوی اوبوی ډيرښه پوهيږي . اوپه خپل منځ کې خپل قوانين لري. چي دهغه ترکړني اوتطبق لاندي ژوند ته ادامه ورکوي . په ځنګله کې ډير ستر قانون دزور اوقوت قانون دی .داپه دې معنا چي هر حيوان ډيرزور او قوت درلود؛ هغه حق دی. اوپرنورو حيواناتو باندي باداري او خپل ستر توب کولای سي. چي ودې ته په اصطلاح کې دځنګله دزور قانون هم وای. په ځنګله کې تر ټولو غښتلی حيوان زمری دی ، چي وروسته تر زمري بيا پړانګ اوکوږ هم غښتلي حيوانات دي. اوډيروخت دوی هوسياني ، غوايان، بزې اونورحيوانات ښکاره کوي . اوهغه بيا په ګډه سره خوري . لومړی ښکار سوی حيوان هغه څوک خوري کوم چي ډيرغښتلی وي.بيا چي غښتلي حيوانات ماړه سول؛نوپاته هغه کوچني حيوانات خوري. څوپه پای کي نوبت ومرغانوته ورسيږي.خوبرسيره پردې چي په ځنګله کې دزور اوزوروږقانون روادی،نويولړنورقوانين هم سته،چي هغه هم په ځنګله کې دتوجه وړدي.دبيلګې په توګه که يووحشي حيوان لکه زمری په ګيډه موړ وي ،نوهغه بيا نور کمزوري

حیوانات نه خوري. یا په زمریانو کې قوانین داسي دي ؛چي ښکار همیشه ښځه کوي. لیکن دخوړلولومړی حق یې نه لري. او واړه ټول وخت ښځي ساتي. همدغسي په ډول ، ډول حیواناتوکي ځانته قوانین سته . خو یوازي دزور قانون یوعام قانون دی چي په ځنګله کې روان وي. چي په دې باب دبزې اوشرمښ نکل دیادوني وړ دی .

## شرمښ اوبزه :

دبزې اوشرمښ کیسه :یوه ورځ په ځنګله کې .یوه بزه چي ښکلی رنګ اوښایسته ښکرونه یې درلوده ګرځیده .ګرمۍ ډیر زور پروکړ.نوځکه ډیره تږې سوه.نو دغره له سره را کښته سوه؛او یو روان لښتي یا ویالې ته یې ځان ورساوه .په لاره کي ډیر وارخطا او شاوخوا ګوري ؛چي کوم دښمن یرغل پر ونه کړي. خو څه وخت چي ځان وصافواوپاکواوبوته وروورساوه؛نوپه ډیر تلواریې،داوبوپه چیښلو پیل وکړ.خواوبه سوې لانه وه؛چي وځنګ ته یې یولیوه یا شرمښ ولاړدی . اوپه سرواو خښمیدلو سترګو دبزې خواته په وحشت سره ګوري.لکه چي اوبه څیښي ؟ په دې وخت کي بزه وبیریده اولړځه داوبوڅخه پرشاه راغله. شرمښ ږغ پروکړ . بزې!! ودریږه ،چیري ځې ...تا زما اوبه را خړي کړي دي...
بزې په ډیره عاجزي سره ورته وویل: شرمښ لالا! اوبه خو زما پرخواراځي . ته خولوړولاړیې ،نوزه به څنګه ستا اوبه درخړي کړم....
خو شرمښ په ډیر قهرسره ورته وویل بزې!! ډیره اوږده ژبه دي کړې ده.... یوخو دي اوبه را خړي کړي دي. او بل بیا زما سره په اوږده ژبه خبري لا هم کوې... نوزه درواغ وایم؟ اوته رشتیا وای...؟ .

بزې چي دشرمښ سترګوته وکتل نوره هم وارخطاسوه .نودځانه سره یې پریکړه وکړه ؛چي ځان به ددې مصیبت څخه باسي ، نو یې دتیښتي لارغوره کړه. بزې په ځغاسته پیل وکړ. خوشرمښ هم ورپسي منډه کړه. ښه چي دځنګل ویوه حدته راورسیده .نژدی سوچي بزه ونیسي اوویې خوري ... چي په دې وخت کي کوږ ولیده چي شرمښ ښکار پیداکړی دی. نو سمدلاسه یې دشرمښ لاره بنده کړه ،پر شرمښ یې ږغ وکړ، ای شرمښ! دازما په ښکار ته څه کارلرې؟ته اوس دومره سوې چي زما دکورچرګان اوخواړه خورې....؟ سمدلاسه یې شرمښ را غوځارکړ.اوښه یې وډباوه. بزې ددې وخته ګټه واخیسته .اوپه تراټ یا

چابکي سره دغره وسرته وختله اوهلته هغه اولادونه چي د مور انتظار يې کاوه ورغله اوشيدې يې ورکړې .

## زما ګناه

نه مي دچامال خوړلی نه مي څوک وژلی دی
نه مي چاته ورک شه يا ګـم شوکـله ويلی دی

نـــــــــوره ګناه نه لرم په دې ګناه مي مه نيسه
زړه کي مې چي پټ ظالم ته بدغوندي کتلي دي

وخت داعتراف دی ګناه خپله درته وايمه
نه يمه منکر په مظلوما نومي ژړلي دي

داګناه د سترګوکه د زړه ده نه پوهيږمه
بدمي چي ليدلي خدايږوبدمي هم بللي دي

زه يې په ليد لواوويلـــوګناه ګـــارشومه
نوريې په کولواوعمل باندي ښاغلي دي

نـــه يــمـــه خـا ين په خيانت د نـــوروپوه يمه
پوهه که ګناه وي خلک ټول اوس پوهيدلي دي

داچي ډيرکاره درته ولاړدي ټيټ سرونه هم
ستا مخ کي چي سم نه شوه سم کله چليدلي دي
هيڅ اميدترې مه کړه که څوک ځان دتا غلام ګڼي
مــــاغلا مـــانـــه ذهنيتونـــه پـــيـــژنـــدلــــي دي

لوړمقام ته رسي چي بوټونه پاکوي د بل
ډيرپه دغه شغل رياست ته رسيدلي دي

(ګل پاچا الفت د۱۹۰۹م ـ ۱۹۷۸پورې ژوند)

# دپښتوژبي الفبأ

پښتوژبه دمرکزي آسیا یوه لرغونې او تاریخي ژبه ده .ددې ژبي ږغونه دتاریخ په اوږدوکې ،په مختلیفولیک دودونوسره ښودل سوي دي. چي لومړی:په اویستایي ژبه کي؛چي په پهلوي لیک لیکل سوي دي.په یوناني ژبه کي په یوناني لیک دود لیکل سوي متنونه. اوبیا په اسلامي دوران کي ،چي په عربي لیک دودلیکل سوي متنونه راپاته دي .

داچي پښتوژبه په هر لیک دودلیکل سوې ده. ددې ژبي تاریخي لرغونتوب څرګند دی.پښتوژبه دتلفظ اویا ږغونوله مخي دپوره ارزښت وړژبه ده.پښتوژبه تر ډیره ځایه ډیر ږغونه ګړولای یا تلفظ کولای سي. نوپه دغه دلیل هم پښتانه دډیروژبودزده کړي توان اواستعدادلري.

پښتوژبه ٤٦ږغونه لري چي په دې کې ٣٠دالفبأ توري یې خپل دي . او٢٢نور توري دفارسي سره ګډ او شریک توري ګڼل کیږي. د پښتو توري په لاندي ډول دي .

ا ـ ب ـ پ ـ ت ـ ټ ـ چ ـ څ ـ خ ـ ځ ـ د ـ ډ ـ ر ـ ړ ـ ز ـ ژ ـ ږ ـ س ـ ش ـ ښ ـ ع ـ غ ـ ک ـ ګ ـ ل ـ م ـ ن ـ ڼ ـ و ـ هـ ـ ی .

په دې توروااولفبأ وکې اته توري دي چي په ځانګړي توګه یوازي په پښتوکې راځي .او نوموړي توري بیا په فارسي او عربي ژبه کي نه استعمالیږي.اوکه یې چیري استعمال کي نوڅرګنده خبره ده چي نوموړی لغات به خامخا دپښتو لغات وي.چي وفارسي ته ورغلی اوهلته منل سوی دی. نوموړي توري په لاندي ډول دي .

ټ ـ ډ ـ ړ ـ څ ـ ږ ـ ځ ـ ښ ـ ڼ . که چیري نوموړي توري په دري کي راغلي وي. لکه : پټو ـ پوهنتون ـ تورن ـ ډګرمن ـ ډګروال ـ ستر ـ ډله اوداسي نور توري سته چي په فارسي ژبه کي هم استعمالیږي.اوپه همدغه ډول په پښتوکي هم دعربي ژبي ځیني توري استعمالیږي. چي تعدادیې لسوتوروته رسیږي.لکه : ص ـ ض ـ ط ـ ظ ـ ق ـ ف ـ ح ـ ذ ـ أ ـ ث نوموړي توري په پښتو اوفارسي کي هم استعمالیږي لکه : ثواب ـ خط ـ طبیب ـ مظلوم ـ ضرر ـ ذات ـ قابل ـ صادر ـ فواد اوداسي نوري بیلګې دي . اودغه توري بیا یوازي دپښتو سوچه توري ګڼل کیږي لکه : ړوند ـ ژبه ـ ښځه ـ رڼا ـ سترګه ـ کوټه ـ کور ـ ټولګی اوداسي نور.

# ښـــــځـــــه

دجهان په ټولوکړوکې چې افضل دی
دادښځې احترام دی چې اکمل دی
دانسان بقأپه مورده که رشتياسي
دادخورپه مينه وروروګوره اتل سي
***
چې نـغـري باندي جوړيږي داخوداده
داددې په مينه ټول بهيراجمل دی
دغيرت اودعزت محک په دې دی
هرپښتون دپاکي ميني يې محصل دی
***
دادميني خزانه پرمــېـــنـــه ښه ده
چې په مينه دمېرمني کور عسل دی
په نړۍ کې عزتمنده قوم هغه دی
چې پېغوروررته دښځي لوی اجل دی
***
په عـزت اوعـقيد ت که ورته ګورې
احترام اوپرستـش دې ته اتکــل دی
ددنــيــا په نعـــمـــتــوکـــې اول داده
په بـــقــأکې دبشرمي دا اصــل دی
***
که دټول عالم ښادي سره يوځای سي
نه بې تول سي نې لنګر نه يې بدل دی
په عزت يې که څوک پوه نه دی جاهل دی
جاهل څه؟چې دی په اصل کې اجهل دی
***
پـــېــژند نه دانسان په مـيــنـــه کـيــږي
داددې مينه تـــــــرټولو ښه عـــمـــل دی
انسانان چې سره او سي مو ر يې داده
که دمور عزت څوک نه لري ارزل دی

چي دخور په مينه څوک پوهېداى نه سي
انسان نه دى،دى په اصل کې خذل دى
زه بخــــرکى يم حيران چي څې وبولـــم
ددنــيــا ومافــيــهــامــــي داازل دى
(محمد علم بڅرکي د۱۹۲۱م ۲۰۰۳م پوري)

## دبي بي زينبي ويردخپل وروراعليحضرت شاه محمود پرمړيني

بي بي زينب دميرويس نيکه لوراوداصفهان دفاتح اعليحضرت شاه محمود خوروه . دې دپلار په کورکې له ملا نور محمد غلجي څخه زده کړه کړې ده. بي بي زينبي په ديني علومو،ادبياتو، تاريخ ، اودهغه زمانو کتابونه لکه :دايرأت المعارف کې زده کړه کړي وه. ددايرأت المعارف څخه يې دغه علوم زده کړي دي. لکه: کيميا ، هندسه اوسياسي علوم يې لوستي وه.حاجي امان الله هوتک په ۱۳۳۰هـ کال کې دشاه عالم خان دکورنۍ دغه نارې ليکلي دي او تراوسه پاته دي.

شاه محمود هوتک په ۱۷۲۲م کال داکتوبر پر۲۲ نيټه واصفهان ته ننوت.دايران شاه شاحسين صفوي خپل تاج په خپل لاس دخپل سره ليري کړ او دشاه محمودپرسريې کېښود.

دشاه محمود ځانګړنه يوه درحم او مهربانۍ ځانګړنه وه . هغه ډير زړه سوانده اوپرغريبو خلکومهربانه عادل پاچاؤ. دظلم په وړاندي جنګيده.اوظالمانوته يې دعبرت درس ورکاوه. خو ويل کيږي. چي شاه محمود په ډيره ځواني کي وفات سو.نودده پروفات باندي. دهغه خور بي ، بي زينبي داسي ويرنه کړې ده. چي په واقيعت کي . دشعري نظم له پلوه پوره ارزښت لري. او دشاه محمود په وفات سره په سيمه کي پوره بي نظمي را منځته سوه. اود پښتنو امپراطوري دسخت خطرسره مخامخ سوه. او دشاه محمود په وفات نه يوازي افغانان ؛بلکي ايرانيان هم خوار سول اوسخت خوابدي سول . نوموړى وير په سيمه کې يوډيردروندوير ؤ. چي په سيمه کې اغيزي وښودلې. اودهغه ويرنامه په خپل وخت کي يوه مشهوره ويرنه وه. چي دهر افغان په خولوکې زمزمه کيده . اوهر

افغان په دې ويرکي ځان شريک ګڼه . نوموړې ويرنامه دپښتني ناروپه نوم هم شهرت لري .ددې شعرنوم دی( مرثيه دشاه محمود جنت آشيان) .

ويـــرنـه

بڼغ سو چي وروړتيرله دنيا سونا
کـــنـــدهـــا رواړه پــه ژړاسونا
زړه ګی په ويرکې مبتلأ سونا
چي شاه محمود له ما جلاسونا
داروڼ جهان راته تورتم دی نا
زړه دبيلتون په تيغ کړم دی نا
هوتک غمجن په دې ماتم دی نا
د پـاچـهـــي تاج مو برهم دی نا
چي شاه محمود تير له د نيا سونا
کند هـــا ر واړه په ژړ ا سو نا
****
ځوان ؤ ميړه دتورې جنګ و نا
ولاړ د کــام په نا مو ننګ ونـــا
دښمن له ده په وينو رنګ ونا
پرميدان شېرو يا پـلـنـګ ونـا
افسوس چي مرګ دده په خوا سونا
کند هـــا ر واړه په ژړ ا سو نا
****
محموده نه يوازې خور ژاړي
پرمرګ دي ټوله کلی کور ژاړي
خپـــلـــوان لا څه پا چا دورور ژاړي
لښکر سپاه د پــلي سپور ژاړي
پښتون دې ټول په وا ويلا سو نا
کندهار واړه په ژړا سونا
اصفها ن پا ته تاج نسکور عا لمه
چې شاه محمود سونن په ګورعالمه

د پښتون لمر سو تياره تور عالمه
را ته د ښمن به په پيغور عالمه
چي پاچا ولاړ پښتون ګــدا سونا
کند هـــا ر واړه په ژړا سونا
****
لــښـــکر سو خپور پښتون ولاړ دی اريان
په خا ورو ځا ی کا شاه محمو د عليشا ن
پا ته سو تـخـت و تاج د ټو ل اصفها ن
زړه يې را سوړ سو کا خوښي دښمنان
وايي پښتون اوس بې پا چا سونا
کــنــد هـــا ر واړه په ژ ړا سو نا
****
آ سمانه بيا دې څه ستم کا څرګند
و شلا وه تا چې د پښتون و پيوند
دښمن دې بيا زموږ په وير کا خور سند
چې شاه محمود دې کا په قبـر کې بند
پر کور وير شور و غوغا سو نا
کند هــا ر واړه په ژ ړا سونا
****
هو تکو ژاړی محمود شاه څه سونا
پښتنو ستا سو لوی سپاه څه سونا؟
له اصفهانه تر فراه څه سونا
د پښتنو پرتــم پناه سونا
پا چا چي وو حشمت پناه سونا
کند ها ر واړه په ژړا سونا
****
محموده ځوان وې ولي ولاړې له ما
له تخت و تا جه پر څه سولې جلا ؟
ا صفها ن ولـــي پاته سونا له تا
سردې راپورته کړه چې څه کړي اعـدا

دښمن ولاړ بیا شاه اوخوا سو نا
کندهــا ر واړه په ژړا سو نا
****
اورم ناري دغم چې کړینه فریا د
پښتون په مرګ دشاه محمود سو برباد
زړونه چې تل به وو ښاد من سول نا ښاد
مــا تــم زده پـــیــرو بــرنــا ســو نــا
دساندو ږغ دی چي را وړینه یې باد
کــنــدهار واړه په ژړا سونا
وروره مقر دې ستا مؤلا کا جنت
در دې کړي تا ته پسله مرګه راحت
روح دي سه ښاد په لویه ورځ دقیامت
مخ دې ؤرونې دخدای په مهرو را حت
دخا لق رحم تـل پرتا سونا
کند هار واړه په ژړا سونا

بي بي زینبه یوه سیا ست پوه ښځه وه . اودوخت په شاهي دربار کې دفتري کارونه هم کول . او پاچهانو ته به یې صلاح او مشوره ور کوله . دې پښتنې میرمنې به دتوریالیو ستاینه کوله .او موږ اوس هم ددې ښځه دغیرت درس زده کولای سو. اوددې یوبله حماسه هغه وخت په شعرکې له خولې ووتله: چي د سیدال خان ناصر سترګي نادرافشار ورواېستې ، نو پرپښتنو یې ډیره بده اغیزه وکړه ، اوبي بي زینبی داسي ویرنه پرې ویلې ده :

پښتنې لا دسیدال پــر ســتــرګوژاړي
نادرله کامه نور سپن ږیري غواړي

یوبل ځای بیا وایي :

که ځاله ده زړه مې د غمګي ځا له
ما و یل را به سلیما ن خیل سي
اوس خبرسوم له ړندوالي د سیداله

بل ځای دمحمد شهزاده (دشاه حسین زوی) په باب داسي ویر کوي .
لیونۍ له ډیره ګورومه پښتنې دي – مـحـمـد خان نــا در نیولی

په پښتو کې يې بې ډوله زولنې دي
بې بي زينبي پښتنو ته ديوالي اووروولی لار ي ښودلي دي.او هميشه يې په پښتنو کي دوحدت فکرونه روزلي دي .

# روغتيا

روغيتا د هر انسان دپاره يو ضروري شی دی . کله چي دانسان وجود ناروغ نه وي؛ نو دغه ته روغتيا واي. ناروغي دانساني ژوند تر ټولو لويه دښمنه ده. ځيني ډاکتران اوبيالوژي پوهان په دې عقيده دي.چي سالم وجود دسالم اوتندرسته عقل اوفکر لرونکي وي.نوهرانسان بايد په هروخت کې وخپل وجود ته پوره پاملرنه وکړي . او هيڅ وخت پرې نه ږدي؛چي وجود اودوجود سلامتي يې په خطر کي سي.اوهرانسان بايدپه هروخت کي دهغه څه څخه ځان وژغوري؛چي دده وجود ته ضرر لري .اوهغه څه چي وجوديا بد ن ته تاوان پيښوي په لاندي ډول دي.
لومړی : دنشه يي توکو څخه ډه ډه کول. چي داعبارت دي. له : سګريټ ـ چلم ـ نصوار ـ چرس ـ تارياک ـ شراب اوداسي نور. چي انسان پرې نشه کيږي .
دوهم : دمکروبونو څخه ځانونه ساتل؛انسان بايد دټولوهغه شيانو څخه ځان وساتي ؛ چي دده وجود پرې چټل اوناپاکه کيږي .
دريم : دبې ځايه عصبي کيدو څخه بايد ځانونه وساتل سي . او خپل وخت په روحي خوشحالي اوقوي اعصابو سره خوشحاله اموخته کړي.
اود ستونزو په وخت کي ددې پر ځای چي عصبي سو؛بايددستونزود حل لاره اوچاره وسنجوو.اودحل لارې ولټوو. همدغسي ځانونه دستونزو څخه وژغورو اوپه هر وخت کي مخکي له دې چي دستونزو سره مخامخ سو بايد ژور فکر وکړو.
همدغسي دصحت اوروغتيا دپاره زموږ وجود وښوخوړو غـزا پروخت اوپه اندازه خوړوته ضرورت لري.ښه خواړه هغه خواړه وي چي ويټا مينونه اونور ضروري توکي ولري.اود وجود انرژي په هغه اندازه چي بدن يا وجود ضرورت ولري دخوړو دلاري تر لاسه کړو .
هغه خواړه چي زموږ وجود را بشپړه کوي په لاندي ډول دي.
لومړی : هغه خواړه چي پروټينونه لري لکه : غوښه ـ کبان ـ هګۍ ـ شيدې ـ لوبيا ـ دال نخود اوداسي نور .

دوهم : دوجود ساتونکي خواړه: داهغه خواړه دي چې ويټامينونه او مينرالونه لري . لکه : ويټامين اى (A) بي (B) سي (C) ډي(D) . مينرالونه لکه: اوسپنه او کلسيم . په نوموړو ويټا مينونو باندي وجود سالم ساتل کيږي. او هميشه دوجود فعاليت په ښه توګه سرته رسيږي.
دريم : دانرژۍ توليدونکي خوړه:دا هغه خواړه دي چې دوجود دپاره قوت او طاقت توليدوي. انرژي په وجود کي ذخيره کيږي او دکار او فعاليت په وخت کي بيرته په مصرف رسيږي. ډيره انرژي په قندونو غوړيو ـ عسلو ـ خورما اوداسي نورو خوړو اوقندي موادوکي سته .
دښه وجود په ساتلوکي برسيره پرښو خوړواوښوويټامينونواوانرژۍ د انسان وجوديولړ نوروشيانو ته هم ضرورت لري لکه : سپورټ ـ دوجود پاک ساتل .
لومړى ـ سپورټ : سپورټ هغه جسماني فعاليت دى چې دانسان دوجود ذخيره سوې انرژي مصرفوي.اودوجود څخه يې باسي.که دانسان دوجود انرژي مصرف نه سي نو انسان دستي دبورې په ناروغۍ اودزړه په ناروغي اخته کيږي .
دوهم ـ پاکي : پاکي هم دوجود په ساتلوکي ډير ارزښت لري او وجود هغه وخت سالم وي چې دوجود پاکي په نظرکي ونيول سي. دوجود پاکي عبارت ده له :غاښونو پاک ساتل،مخ ، لاس ، پښې اونوروجود په هر وخت کې پاک ساتل . اوهمدغسي ټول عمر پاکي جامې اغوستل دوجود سلا متيا ته ګټه رسوي. نودوجود ساتل دژوند په ټولو شيبو کي ځکه ضروري دى؛ چې که انسان ناروغه سي نوبيا دژوند کارونه په ښه توګه سرته نه سي رسولاى . اوهميشه په درد ، ستونزو او دځان په خوږ اخته وي. نوښه صحت چې دانسان دپاره يوښه نعمت دى . بياپه ساتلو کې بايد په پوره غورسره پاملرنه وسي. اوپه همدغه ډول ښه صحت ديوه انسان دپاره په دې خاطر هم ضروري دى چې ټولنيز کارونه په ښه صحت اوښه فکر سره تر سره کيداى سي . که يو نفريا يوانسان ناروغه اوپه درد اخته وي. نو به هرومرو دهغه فرد سره دهغه کورنۍ هم په ستونزو اخته وي او په ټولنه کي به درحم او زړه سوي وړوي اوپه نتيجه کي به ټولنه هم ورسره په ستونزو اخته وي . نوموړداسي نتيجه هم اخيستلا سو چي زموږ وجود يا دانسان وجود يوازي په هغه انسان پوري تړلى نه

دی ؛بلکي دهر انسا وجود په يوډول نه په يوه ډول دټولني سره هم اړيکي لري . داځکه انسانان يودبله سره ټولنيزژوند لري . هغه ټولني چي دخلکو صحت يې سالم وي نو هغه ټولنه هم سالمه اوپرمخ تللې ټولنه وي .

## انسان

انسان يو بيالوژيکي ژوندی موجوددی، چي دافزارو اووسايلو جوړونکی دی.

انسان دخپل پيچلي او پرمختللي مغزپه وسيله طبيعت او کائينات په خپل خدمت کي درولي دي. او دطبيعت څخه دځان په ګټه استفاده کوي. انسان دپيښو څخه نتيجه اخلي. او هغه په خپلو تجروبوکي شامله وي . انسان يوازنی موجود دی چي دخپل ښه فکر په بنسټ خبري کوي .اود پوهولو اوراپوهولو وسيله يې خپله ژبه ده. انسان هغه وخت پر نورو حيواناتو باندي غالب او بريا لی سو. چي هغه دکار وسايل جوړ کړل. او نورو حيواناتو دومره پرمخ تللي ماغز نه درلودل. په لومړي سرکي انسانانو دکاروسايل په دغه درو پړاونو کي سره سم او جوړکړل .

لومړی ـ دډبرو دتوږلو پړاو : په دې پړاو کي انسانانو دځان دژغورني او دښکار دپاره ډبري پيداکولې .او هغه به يې توږلې اوتيرې کولې به يې.څو دنورو حيواناتو څخه هم ځان وژغوري او هم دخپل خوراک دپاره ښکا ر په وکي.

دوهم ـ دډبرو دصيقلولو پړاو : دا مرحله يا پړاو تر لومړنۍ مرحلې يوه اندازه پر مخ تللي مرحله ده . په دې پړاوکي به انسانانو هم ډبري توږلې او هم به يې بيا ښکلي صيقلولې اوښايسته کولې. يعني يوه اندازه صليقه يې نوره هم ورسره ډيره کړه .

دريم ـ دفلزاتو پړاو : دانساني ژوند يوه مهمه دوره يا پړاوهمدا دی ؛ چي په دې پړاو کي انسانان په دې باندي بريا لي سول. چي کلک او سخت فلزات کشف اوپيدا کړي . په دې دوره کي انساني ژوند دومره پر مخ ولاړی، چي انسانانو اور هم وپيژنده او داور په وسيله يې فلزات ويلي کړل او دخپل ذوق سره يې سم دکار افزار ځني جوړ کړل .

دفلزاتو په دوره کي انسانانو داور خورا لويه اختراع وکړه اود اورپه کومک يې غزايي مواد پاخه کړه. اودحيواناتو غوښي يې داورپه وسيله

سره پخې کړې.چي نوموړي پخې غزاوي دانسان دښه مغزاو ښه صحت سبب سولې.اولاپسې نوريې دژوند په چاروکي پرمختګ وکړ.نوانسانان دحيواني نړۍ څخه رابيل سوه.اودځان دپاره يې انساني ډوله محيطونه لکه: کلي اوکورونه جوړکړل.اوټولنيزژونديې چي دانساني ځانګړنويوه برخه ده ځانته جوړ کړ.اونور حيوانات يې دځان په خدمت کي ودرول.

## بندي مرغۍ

چي چيغيږي په قفس کې دامرغۍ
وائي واورۍ زما ناره دآزادۍ
دبهر مرغان آزاد اوجوړه ګرځي
ماته نسته حق حقوق دآزادۍ
***
طلا ئي قفس په شکل کې ښه ښکاري
هم مې شته ده په پيالو کي دانګۍ
دچيني لوښوپيالې ماته پرتې دي
هم مي شته ده ښکلې ، ښکلې آبخورۍ
***
سيلا نيان مي دفرياد ننداره کاندي
هم مي بولي په نامه د کنرۍ
وباغچواوګلا نوته مي بوزي
کړم نارې او غلبلې دپردېسۍ
***
دخوراک متاع که هرڅومره وي زياته
هيڅوک نه غواړي قفس ددلتنګۍ
آزادي خو لوی نعمت ده هر ساه دار ته
که نه واوره دقفس ددې مرغۍ
***
استعمارچي هيوادونه ځانته ښکيل کړي
دښکيلا ک به هم چيغاروي پرنړۍ
دنيا وال که نه پوهيږي نودي واوري
زده کړه کيږي دقفس ددې مرغۍ

***

ا فغا نا ن په آزادئ باندي پو هيږي
ځکه ولاړې ککرئ پر آزادئ
که مې ژوند نه وي آزاد ځان به نثارکړم
خوښ مي نه دی بنده ژوند دبنده ګئ (( ننګيالی ـ بڅرکی))

## مـــــو ر

چي په شپه وې نا آرامه
درد په درد کي نا قراره
موروتاته وه بې خوبه
ستاوسرته ناسته موروه
بيا يې لوی کړې په شيدو
څــوولاړسولې پـــر پښو
په ناز،نازئې لويولې
په هوس يې غـټولې
پاک خواپاکی يې ساتلې
هميشه به يې څارلې
نازولـــی پرخپل کوروې
په پسته غيږکي دموروې
موربه ويښه ته ويده وې
اتمنان دخپلي مــــوروې
ته په هيڅ نه پو هيدلې
مورپه هرڅه پو هولې
عـقـل منديې لـــويــولې
د سيالانويې سيال کړلې
نازولی دخپل موروې
معتبره دخپل کوروې
که ناماداريې فن دموردی
افتخاردي خپل دکوردی
بيا چي ورو،وررولويدلې
ا فــتــخاردقــوم ســولې

قوم ستا په نامه جوړدی
افتخاردي کورپه کوردی
هراولاددمورپه کړودی
بس ارمان دهري موردی

فیلسوف مور زيږولی
قهرمان ځیني جوړسوی
هـــرپاچامورزيږولی
بیا پاچاځیني جوړسوی
هر راهبرزيږي له موره
داد مورغــيږه وګــوره
کورنۍ پرموروي جوړه
حـــق اداکه دخپل موره
جـــــهـــان هم مــورده منلې
په هرکال کې ورځ نمانځلې
مور ځانګوده ځنګولې
دانړۍ يې ده ساتلې
پسله غيږي څه دمور
ښوونځی غـېږه دمور
مورخومشره دخپل کور
احترام حق دی د مور
دننګيال بڅرکي موروه
مهربانه پرتول کوروه

## دمور مینه

یوورځ یوه بیعقل اوبد بخته زوی خپله مور په څاه کي واچوله . او یوڅه ګړی ورسته وڅاه ته ورغـی.څووويني چي موريې مړه ده که ژوندۍ ؟ څه حال يې دی .نوڅه وخت چي وڅاه ته ورنژدې سو اوسريې وڅاه ته لاندي ورکوزکړڅودمور حالت وويني په دې وخت کي چي زوی وخپل مورته وکتل ؛نو موريې ږغ پرخپل زوی وکړاووې ویل: زویه نژدې مه

راځه ؛نه چې ته هم ځاه ته ولوېږې ځاه ډېر خطرناکه دی ،دځاه څخه لیري سه زویه ! چې په ځاه کې ونه لوېږې .

# دپښتو ژبې ګرامر

په هره ژبه کي ، ژبني جوړښتونه موجود وي .اوهغه ژبه په روانه توګه لیکني او خبري اتري په کوي.پښتو ژبه چې یوه لرغوني ادبي ژبه ده، خپل ځانته ګرامري اصول او قاعدې لري. نوګرامر یعني څه؟ .

ګرامر: هغه علم ته وائي چې موږ ته د جملودرست اوصحیح جوړښت راپه ګوته کوي.. په ګرامرکي دجملو ټول جوړښتونه ،توکي ، ځانګړني اواصول. دکلمواوجملودښه جوړښت اواړیکوپه خاطر راښئي. ګرامرته په انګلیسي ژبه کي (syntax) وایي .

کلمه : هغه معناداره لفظ دی چې لږترلږه ددو، تورو څخه جوړسوی وي. لکه : هلک ، ښه ، ځي اوداسي نور...

خو دکلمودیوځاي کیدو څخه بیا جمله جوړېږي.لکه: کورته ځم ، کورته نه ځم ، اوبه نه چیښم ، ډوډۍ خورم ، دبریالي ورور، احمد ښونځی ته ولاړ، احمد محمود وواهه اوداسي نور.... جمله پر دوه ډوله ده .

لمړی: ـ بشپړه جمله دوهم : نیم ګړې جمله.

لومړی : بشپړه جمله وهغه جملې ته وایي ؛ چې په بشپړه توګه اداسي اوپوره مطلب وښئي. لکه:بریالی ډوډۍ په هوټل کي خوري.یا دی ژړ،ژړ نه سي تللای ، پرون ښونځی ته پروخت ورسیدم .

دوهم نیم ګړې جمله : هغه جمله چې مطلب په بشپړه توګه نه سي ترې اخیستلای. نیمګړې جمله ورته وائي. لکه : احمد قلم ، بریالی اوبه ، زه ختکی اوداسي نوري نیمګړي جملې سته. چې معنا نه ورکوي اوپه ګرامري لحاظ نیمګړي وي . جمله ددرورکنونو څخه جوړه وي لکه پیل(مبتدا ) ۲ ـ ختم ( خبر ) ۳ ـ اړیکه (ربط ) .

پیل: ـ چې مبتدا هم ورته وایي. لکه: احمد نا جوړه دی ـ په دې جمله کي احمد دجملې پیل سواو ناجوړه دجملې خبر سواو دی د جملې اړیکه ده. یا دکور دروازه وتړه . چې په دې جمله کي هم کور پیل اوتړل یې ختم دی. او دی یې اړیکه یا ربط سو. اوس نوکه چیري یوه جمله دڅوکلمو څخه جوړه سوې وي او خپله پوره معنا څرګنده کړي نوپه نوموړي

جمله کي به دغه لاندي توکمونه دکلمو په ډول سره استعمال سي.
څومور وپوهيږو چي دجملې اصلي رکنونه دڅه شي څخه جوړدي .
اسم (نوم ) ـ ضمير ـ صفت ـ فعل ـ قيد ـ وصل ـ ربط اوداسي نور.
جزيات يا توکمونه چي دجملې ګرامري جوړښت ښئي .
لومړی : نوم ـ هغه کلمه ده چي ديوشي اصليت بيانوي لکه ميز، څوکۍ ، سړی، سپی، غوا ، کاغذ ، ښونځی، هالينډ، ژړا، خندا اوداسي نور... .
نوم دوه ډوله دی لکه عام نوم ـ خاص نوم .
عام نوم : چي پر ټولو څيزنودلالت کوي لکه :هلک ، کتاب ، ښار ، قلم ، سړی، خر اونور .
خاص نوم : ـ چي پر خاص ځای او خاصو شيانو دلالت وکي لکه : افغانستان ، کندهار ، ننګرهار آرزو ، روښان ، لمر اوداسي نور شيان .
دوهم ضمير : ـ هغه کلمه ده؛چي په جمله کي دنوم پرځای دوخت دلنډوالي دپاره راځي. لکه : ته ، زه ، زما، ستا ، دده ، دا ، دغه ،تاسي ، موږ ، زموږ ، ستاسي ، ددغو ، ددوی اوداسي نور ....ضمير درې حالته لري . لکه خبري کونکی (متکلم ) ـ مخامخ(مخاطب) ـ ناسوب (غايب )
۱ ـ خبري کونکی : هغه څوک دی چي خبري کوي لکه:زه کورته ځم.
۲ـ مخامخ : هغه څوک دی چي خبري اوري .ته کورته ولاړسه (ته) مخاطب يا خبري اوريدنکی دی .
۳ـ ناسوب يا غايب : هغه څوک دی چي خبري کونکی (متکلم) دمخامخ يا (مخاطب) سره دده په بارکي خبري کوي .
صفت : ـ صفت هغه کلمه ده؛ چي په جمله کي پرنوم اغيزه ښندي.لکه: تور سړی ـ ژړه غوا ـ نوی کتاب ـ زړه ميوه ـ بدهلک ـ ښايسته نجلۍ اونور ... دلته تور، ژړه ـ نوی ـ زړه ـ کوچنی ـ ښه ـ صفتونه دي .
فعل : ــ هغه کلمه ده؛ چي ديوه کارکول ښکاره کوي.لکه: ځم ـ ژاړي ـ خاندي ـ راوړي ـ خوړل ـ ګوري ـ کښل اوداسي نور دي .
فعل دوخت اوزمانې په لحاظ پردرې ډوله دی لکه :۱ حال (اوس ) ۲ ـ ماضي (تيره زمانه) ۳ ـ استقبال يا راتلونکې زمانه .
۱ ـ اوس :يا حال. هغه وخت ښی چي يوکار اوس کيږي . لکه ځم ـ ليکي ـ خوري ـ وړي اونور .۲ ـ تيره زمانه : چي يو کارپه تيروخت کي

سوی وي . ۳ ـ راتلونکې زمانه : چي يوکار په راتلونکې زمانه کي ترسره کيږي . لکه : بريالی به انګورراوړي ـ تاسي به تاريخ تر نهمي پاڼي پوري زده کړی . هيوادبه سمسورسي . دوی به ولاړسي .

قيد

قيد هغه کلمه ده چي په جمله کي پر فعل ، صفت اوقيد باندي تاثيروکي . لکه په لاندي جملوکي.

جان محمد په سورکميس کي بازارته ولاړ.حميرا په خندا کورته راغله. دغورځنګ کورپه ځنګل کي دی . اونور. دلته سور ـ خندا ـ ځنګل دقيد کلمې دي .

دوصل توری: داهغه توری دی. چي دوې جملې سره نښلوي.لکه: په لاندي جملو کي .

احمد او محمود ـ ده وويل چي دی ناروغه دی. دی راغلی. مګردوی را نه غله . که څه هم ته په کور کي نه وې. زه را غلم . دی به درسي که ته غواړې .يا دی؟ يا دا به؟ موټروچلوي.هر څومره چي مي درته وويل غوږ دي ونه نيوی . احمد رانه غی. لکه چي نا جوړه و. اوس نو په لوړو جملو کي ( او، چي ، مګر ، که څه هم ، که ، يا ... يا ، هرڅومره چې ، لکه چي . ) دوصل توري دي .

دربط يا اړيکو توري : ـ دربط توری داسم يا ضمير سره يوځای را ځي او داسم يا ضمير ربط دفعل سره ښيي . لکه : احمد محمود ته وويل . ما په ښوونځی کي لوست ووايه . اوس نوپه دې جملو کي ( ته ، په ) دربط توري دي . خودربط نورتوري لکه : پر ،تر ، له ،سره ، څخه ، و ، د ، پورې ، باندي ، په اونور ...

تمرين : که تاسو دګرا مر لومړي نومونه پيژندلي وي نودلته به په جمله کي تاسونوم، صفت، قيد،ضمير، فعل، ربط اوپيونديا وصل وښاياست .

لومړۍ جمله : احمد په نوي کالو کي کارته ولاړ . سباوون په خپله خونه کي ويده دی . د کور غله نه نيول کيږي . راځۍ چي دشيريخو ميله وکړو . ما اوتا دواړو پريوه ځای ښونځی پيل کړ . نوته بيا ولي اوس په شپږم ټولګی کي يې . سګريټ زما اوستا دپاره ښه نه دي . هغه توره ښځه ډيره مهربانه ده . دماهي غوښه ډيره ګټه لري . هيواد پر هرچا ګران وي . خو افغانان دهيواد دپاره ترسرلاهم تيردي . تا وډوډۍ ته نانا

ويله چي زما ضرب الزباني زده وه.اوداسي نوري جملې دي.زده کونکي دې دکورني کار په حيث کارپرې و کړي .

# مات وزری طوتي

يووخت د ارغنداب په ښکلواوشنو باغونوکي هرډول ښکلي مرغان په ډلو ، ډلو ګرځيدل.اوهر لوري ته به يې دښکلو نغمو آزانګې ترغوږ.و کيدې. مرغانوبه په پټو ځايونواولوړوونوکي دخپلوبچيانودپاره دامن ځالې جوړه ولې.پرهغوی خپل بچي ګران وو.اودوحشي حيوانا تو طبعي بادونواوبارانونواوداسي نوروهغه شيانو څخه به يې خپله ځاله خوندي ساتله؛ کوم چي به يې خطر ځني ليده .

دمرغانوپه منځ کې شنو طوتيانوهم دارغنداب دباغونو ښکلا ور ډيره کړې وه. په دې وخت کي يوه جوړه ښايسته او ښکلي طوتيان چي دډيري لرغوني زمانې څخه يې دپلرونواونيکونودوخته په ارغنداب کي ژوندتيرکړی واوددې سيمي دټولوشاوخواڅخه باخبره وو.دخوړلو ځا يو نه،داوبودچينلوځايونه ،دخطر ځايونه اوهرڅه ورته معلوم وه. دادوه طوتيان چي دژوند ښه ملګري ښځه اونروه يعني ميړه اومايينه (ميرمنه)وه چي يوه ښکلې جوړه يې جوړه کړې وه. دوی ځوانان وه .او دواده ثمره يې درې دانې هګۍ وې.چي ديوې جيګي وني په يو خوندي ځای کي يې په يوه پسته ځاله کې اچولې وې . دوی په خپلو راتلونکو بچيانو ډير خوشحاله وو. اوپه ډيره مينه به يې خپلي هګۍ ترخپلي سينې لاندي نيولي وې.اوشاربلې به يې هرلحظه به يې هګۍ تر خپل نظرلاندي نيولي وې. هميشه به دغلودانو اويا غزادپاره ميړه بهرته وتی او ښځه به يې دايندده اولادونويا هګيودشاربلودپاره په کورکي پريښودله.طوتي به برسيره پردې چي غلې دانې به يې راوړلې، دنورومرغانو څخه به يې خپله ځاله اوکور هم ساته. کله چي به يې غزا دځانه سره وکورته راوړل نو به يې بيا دکور په شاه وخواکي دخپل کوره څخه ليدنه کوله څوغليم حمله پر ونه کړي . په دې وخت کي ښه ډيروخت تيرسواويوه ورځ چي طوتي دتازه ميوې سره کورته راغی ؛نو ښځې يې زيری پر وکړی اوپر ږغ يې کړ! مبارک دي وي؛زموږ بچيان دهګۍ څخه راووتل . طوتي په ډير تعجب سره په لوړ ږغ ورته وويل رشتيا !! .

همدغه ډول په کورنۍ کې خوشحالي نوره هم ډيره سوه .

په همدې ډول طوتي دېخوا په څېر هرګړی باغونوته ځي.او خپلي کورنۍ ته.ډول ، ډول خواږه اوغلې دانې راوړي. او دونوپرلوړو ښاخونو دخوښۍ سندري وايي . خو پسله هغه چي طوتۍ په دې بريالۍ سوه چي چيچان يې له هګۍ څخه راووزي ؛نو ځيني ،ځيني وختونه به خپله هم دځالي څخه راولاړيده. او دونوپه سرونوکي به يې د خپل ملګري سره سندري ويلې.اودليري څخه به يې دخپلو بچيانوننداره هم کوله. خو بيا هم دغلودانو پيداکول دنر طوتي دنده وه. خو څه وخت چي به يې دژوند ملګری کورته راغی. نو بيا به يې ښځي پوښتني ځنې کولې. او هغه به هم دباغونو اوشاوخوا حال او احوال ورکاوه. يوه ورځ يې دژوند ملګری وځنډيده ښځه اوماشومان يې دغزاپه اميدناست وو.اوماشومانويې دلوږي څخه شورجوړکړی وو.خوبياهم طوتي رانه غی .ښځه يې په وارخطائي سره کله دباندي ګوري اوکله بيا وماشومانوته تسلي ورکوي؛که ګوري چي په دې وخت کي طوتي په ډير بد حالت کي په وينو سور ديوه ښاخ څخه پربل ښاخ وځالي ته راورسيد. اوږغ يې کړه مرسته !!، مرسته او مرسته راسره وکړی.ښځي يې هم دستي مرسته ورسره وکړه. په کورکي هغه نرم اوپوست ځای ورته خوشي کړ اوسمدلاسه يې دزخمي ځايونوپه پاکولو پيل وکړ او په خپله ژبه يې ټپونه ورته پريولل او خپل دژوند ملګری يې ارام ته پريښود اوخپلو بچيانوته يې خپله غلې دانې راوړې .

پسله هغه چي طوتي يواندازه پر هوښ راغی. نويې ميرمني ځنې وپوښتل: چي داټول څنګه وسول ؟ ته څنګه په وينو ولړل سوې؟ اوکوم ظالم وويشتې؟ اوداسي نور سوالونه يې په پرله پسې توګه ځنې وکړل .

طوتي په داسي حال کي چي زخم يې لانه وجوړسوی اودسترګوڅخه يې د دردله کبله اوښکې توې دې اوله درد څخه يوه اندازه په تکليف هم وخپله قيصه يې داسي ورته را پيل کړه ....

هغه وخت چي ما غلې دانې ټولولې يولږ خلک مي شاوخواته تلل اوراتلل خو ما به هم هغوی ځارل. او هغوی به هم زما تماشه کوله. اوپه خوښۍ به مي خواته تيرسول. اوهره ورځ به دنن په شان انسانان زما شاوخواته تيريدل او هغوی به زما ننداره کوله او څه ناڅه غلې دانې به يې هم زما خواته را اچولې اومابه مننه ترينه کوله .خوداځل يوکس چي

رنګ يې دانسان وو؛ولي خوی يې دانسان نه ؤ . خوزه دهغه په خوی نه پوهيدم. هغه پرما بيله دې چې زه دهغه سره کومه دښمني ولرم ؛هغه پرما يونابېره ډزه وکړه. اوما هم يوه لويه ناره وکړه اودوني وسرته والوتم اوهلته مي تريوې پاڼي لاندي ځان غلی کړ. هغه په ماپسي ډيريوې اوبلي خواته و کتل خوزه يې دنظره ورک سوم .نوما چې خپل حالت وليد نومي دکور پرلوري دتلو تکل وکړ اوپه ډېر تکليف سره مي ديوه ښاخه پربل ښاخ اوديوې وني څخه پربلي وني دکورپرلور ځان تاسو ته را ورساوه.

ښځه يې په داسي حال کي چې اوښکي يې لار په لار بهيدلې ځني پوښتنه وکړه! تاهغه سړی پيژانده؟ تا هغه سړي ته کوم تاوان رسولی و؟ تا دهغه سره کومه پخوانی دښمني درلودله ؟ نوپيښه څه وه ...؟

طوتي په داسي حال کي چې ددرد څخه يې وزر ريږديده وويل : ما هغه نه پيژنده ؛خوماچي هغه ته کتل ؛هغه پټ ،پټ زما خواته راروان وو... دهغه حرکتونه داسي وه ؛لکه يوڅه چې غلا کوي . هغه دنورو انسانانو څخه بل ډول ؤ . داځکه چې هغه توپک درلود. اوزه نه وم خبر چې دتوپک خلک دنورو څخه بيل دي . هغه داسي خپل مخ پوښلی وو؛چي تا به ويل هغه خپل مخ خلکوته نه ښئي. داځکه چې مجرم هميشه په نقاب کي ګرځي. خواوس ماته معلومه سوه چې انسانان دوه ډوله دي .

داسي خلک چې توپک لري او خپل مخ يا څيره پټوي. دهغه څخه بايدهر څوک نفرت وکي. ولي هغه ډوډۍ دتوپک په زور لاس ته راوړي.

دوهمه ډله هغه خلک چې دژوند په معنا پوهيږي اودنوروژوند هم دځان په شان دارزښت وړګڼي ، هغه دخپل کار او زحمت په بدل کي خپله غزا او خواړه تر لاسه کوي.

ورسته هغه خپله قيصه ټوله خپلو بچواو ميرمني ته واوروله . او ميرمني يې هم قيصه په غور واوريدله . او ددې څخه وروسته يې دکور غلې دانې تر هغه وخته چې دکور مشر طوتي جوړيده؛ ميرمنې پخ خپله را وړلې .

تمرين : ښوونکی دي د لنډداستان په باب خپله تبصره وکي. او د داستان مؤخه دې زده کونکو ته بيان کړي.

# (( دوطن مينه ))

زړه زما ډک دی لــــه ميني دوطن
خپل وطن ماته عزيزدی ترخپل تن
هريو ګل مي دوطن پرما ډيرګران دی
تـــــــر کشميره تـــر پاريسه تر لند ن
شيرين ځان مي پر شيرين وطن فداکړ
زه خودارنګه فـــــــر هاد يمه کوهکن
ګليستان مي دوطن لارو کنار دی
خاريستان دی دوطن راته ګلشن
دوطن په حمايت کي ځان مباح دی
داميني کي لازم دی سربـــاخـــتـــن
چي دپاچاپه سرسودادوطن نه وي
سر د ده دی مستحـــق دبـــريد ن
چاپه زړه کي چي جنون دوطن مينه
دهغه زړه دي خدای تل لري غمجن
که څه ډيروي په جهان کي عزتونه
ډيرعـزت وي په خدمت کي دوطن

مولوي صالح محمد کندهاری
سراج الخبار ۱۲ګڼه ٦کال

## ټوکه

يوه ورځ يوه وړي سړي دختکي پوستکی خوړ. يوبل سړی پر پيښ سو اوخواته يې جګ ودريده ورته وې ويل:سړی! نه شرميږې چي دختکي پوستکي خورې.داڅومره بدکاردي؟څومره ارواح وړی يې ،ايسته يې که ؛هلته يې وغورځوه(وشرميږه)! .دپوستکي خاوندورته وويل : هلته يې وغورځوم چي ته يې را واخلې .اوغاښونه په تاوده کړې؟ سړي ورته وويل : نو چي اوس په وپوهيدې؛ نو يو څه ماته هم راکړه. چي زه اوته يې په دواړووخورو .

# ښوونه اوروزنه

دهر انسان په ژوند کي ښوونه اوروزنه ، ډیره ضروري ده . نوځکه باید هر څوک ښوونه اوروزنه تر لاسه کړي . څوپه ټولنه کي دیوه پوهه انسان په توګه ښه فکروکړي . هر څه ته په علمي نظر سره وګوري اوپه هره موضوع کي علمي او دتجربې څخه ډک نظر وړاندي کړي .

نوپه همدغه توګه په هره ټولنه کي ښوونه اوروزنه دیوه انسان دپاره یو قانوني اوطبعي حق دی . هره کورنۍ بایدخپل اولادونه دښوني اوروزني مرکزنوته ولیږي.څو دهغه اولادونه په ټولنه کي دیوه باسواده اوپوه انسان په توګه ژوند وکي . او خپله ټولنه په آباده اوسمسوره کړي. په هره ټولنه کي چي دښوني اوروزني مرکزونه ډیروي.نوهغه ټولنه یوه پرمخ تللې ټولنه یادیږي . دښوني اوروزني مرکزونه عبارت دي له : وړکتون ـ ښوونځی ـ لیسه ـ انستیتیتونه(مؤسیسې) او مسلکي پوهنتونونه . خوددې پر څنګ کورنۍ هم دښووني اوروزني ډیرښه ټاټوبی دی . په نړۍ کي لومړنۍ زده کړي په ټولو هیوادوکي جبري ګڼل سوي دي.او هر څوک چي هر چیري اوسیږي باید لیک لوست دښوونځیوله لاري زده کړي. زموږ په ګران افغانستان کي چي ښوونه اوروزنه په وړیا توګه تر سره کیده.خو بیا موهم ستونزي درلودې.هغه داچي په ټول افغانستان کي موښوونځی نه درلوده یوازي موپه ښار و نوکي ښوونځی وو ؛چي په همدغه اندازه مو دسواد لرونکو کچه هم کمه وه . اوهیوادموهم دنړۍ په کچه ډیرورسته پاتې دی . نوکه تاسو دنن ور ځي زده کونکي زیاراوکوښښ وکړی نوتاسي به دهیواددغي ستونزي ته دپای ټکی کښیږدی .اوپه هغه هیوادونوکي چي دښووني کچه یې کمه وي. هلته ډیري ستونزي وي.لکه:غریبي،ناپوهي،بیکاري ، پرپردیوهیوادونوتکیه کول، دکلیواوښارونوترمنځ نه اړیکي ، د طو فا نو نواوسیلابونوپه مقابل کي دانسانانو دژوند خطر اوداسي نوري ناخوالي دبیسوادۍ زیږنده دي .نوددې افتونوڅخه دخلاصون یوازنۍ لاره ښوونه اوروزنه ده. چي دانسانو په ژوند کي خورا ډیر ارزښت لري . اونن چي موږدنړۍ پرمختګ ګوروداټول دزده کړي اوښووني اغیزي دي .نوځکه نړۍ اوس دسواد ورځ دنړۍ په کچه نمانځي .اوښوونکي ته داحترام په خاطر په نړۍ کي دنمانځلوورځ ځانګړې سوې ده .

# زده کوونکوته

ای ښکلوماشومانوځان خبرکړی
دسباورځې زلمیان یاست ځان خبرکی
دهیوادامیددی تاته ځان په عقل برابرکی
دنیکه مودا‌آرزوده ځان سیال ګرکی
ګورم ستاسي په تندي کي غیرتونه دنیکونو
په تندي کي موځلیږي غیرتونه دقومونو
دهیواد بابک مو پروت دی په بسترکي
ناروغ زړه ته یې د واکړی د کلـونـو
ناتوا نه په بسترکي د سبا په امید ونو
یوامید یې دی وتاته د خیا لونو
داګلشن موخپل ګلشن دی دنیکونومیراثونو
داچمن هغه چمن دی دګلا نود بلبلو
باغ اوبڼ دخپلواکیو ځان ته جوړکی
په تڼاکودلاسویې سم سمسورکی
دهیواد ډیوه موبله کورپه کورکی
ځان خبرموپه زحمت دخپلي مور کی
ای ښکلوماشومانو ځان خبرکی
دتعلیم پرلورځانونه برا برکی
په زحمت به خپل هیواد خپله ابادکی
ناقراره زړه دپلار به خپل قرارکی
ای!ښکلو ماشومانوځان خبرکی
دناجوړ هیواد حالت مووربهترکی
ددښمن زړګی په پوهه ورابترکی
داهیواد مودسیلا نودسرغـرکی
هرڅه کیږي په ښوونه اوروزنه
ای !ددن ماشومه لوی شه په ښیرنه
دننګیال بخرکي دغه فیصله ده
ښه اوبددي پیژندنه په ښونه اوروزنه

# ټوکه

# ټمبل ملــګرى

يوه ورځ دوه ملګري دواړه په يوه خونه کي سره ناست وه .يوه ته خوب ورغی او پريووت.خوبل ملګرى يې هم په خپل بسترکي پريوت ليکن څراغ يې مړنه کی. خود څراغ رڼا دوی خوب ته نه پريښوول ، ځکه چي پر سترګويې بده لګيده.نو پر خپل ملګري يې ږغ وکړ.ملګرې ! څراغ مړکه .چي زه بيديږم. خودڅراغ په رڼا کي خوب راته ګران کاردی.ټنبل ملګرې وويل:ملګرې سترګي پټي کړه .اوتيل تک پرسرکش کړه؛ دايې څراغ مړ. هغه پوسوچي ځواب يې دټنمبلۍ راکړ،بيا يې ځيني خواست وکړملګرې ته وګوره!چي باران اوريږي؟ هغه بيا ځواب ورکړ هغه ده پيشي راغله لاس پرتيرکه ؛چي که لنده وه نو معلومداره باران سوی دی او حاجت ستا دتشويش نه سته . ټنمبل ملګري داکارهم ونه کړ. اوځان يې تيرکړ.خودابل ملګري يې بيا ځيني وپوښتل نوورسه دروازه خووتړه!چي سخت يخ اوساړه دي،ټمبل ملګرې يې بيا ځواب ورکړاووې ويل : ګرانه دوسته ما خواوس دوه کاره وکړه، نو دغه يوکار خوته هم وکه .

# ټوکه

ملا نصرالدين،يوه غوادرلودله غوايې شيدې لږ کولې او هم يې خوراک ډيرکولی او هم ناجوړه وه . نويې دخرو ګنج يا هغه ځای ته چي حيوانات په کښي خرڅيږي ، هلته يې را وسته. اوپه بازار کي هغه لال ته وسپارل چي هغه دده غواورخرڅه کي. نو سمدلا سه يې نارې جوړي کړې اووويل: ای خلکو داسي غوامي راوستلې ده چي تر ننه به تاسي په خوب هم نه وي ليدلې . پروخت درې چارياکه شيدې کوي، دومره ارامه غواده ،چي دهر چاسره عادت پيداکوي، دومره با صحته غواده چي په کال کي دوه بچي راوړي .اوداسي نور....

ملا نصرالدين چي فکروکی چي دا دومره ښه غواده، نولې زه بايد خرڅه کړم؟ . نو يې سمدلا سه خپله غوا بيرته تر تناب ونيول او دکور پرلوري يې حرکت وکړ. دريم سړي يا دلال پوښتنه وکړه چي ملا صاحب ولي پښيمانه سوې ؟ زه يې اوس په دغه نارودستي

درخرڅوم .اویو څوک نه یو څوک به خطا باسم . ملا صاحب وویل: نه داچي دومره دښه صفت غواده لکه تاچي وویل : نو زه یې نوره نه خر څوم .

## داستاز دپاره

ای ګرانه استازه !
زما دویاړونوسببه !
زه دي سیال کړم !
زه دي ویاړ کړم !

اوس هر دوست په ما فخرکوي

ماته دي بې پایانه پانګه راکړه
ماته دي دسرلوړی څانګه راکړه
زما ښاغلې ، زدي ښاغلی بولم
زه دي ستایم ،زدي ستایلی بولم

ته دفخروړیې اوزه په تا فخرکوم
تا دې جها ن ته روښنائي ورکړه
تـا وانسا تــه پیروزي ورکــړه
زه دي عـزت دپلار په شان غواړم
دعزت ورځ دي هرزمان غواړم

ستاسي دروغتیا په هیله تاته دوعاغواړم
ستاسي لوړحضورته ستاسي اتل نوم ته
احترام دهر انسان غواړم
ستاسي دجوړتیا په هیله ،ستاسي دسباپه هیله
استازه !زه دي دقسمته خدمت ستاغواړم
زه ننګیالی بڅرکی مد د ستا غواړم
بس همیشه دي احترام غواړم